الدعاء من الكتاب والسنة - **بشتو**

# دعاء؛
## له کتاب او سنت څخه

ليکوال

الله - تعالى - ته محتاج دکتور: سعيد بن علي بن وهف القحطاني

Islamhouse.com

# دعاء؛ له کتاب او سنت څخه

ليکوال

الله - تعالى - ته محتاج دكتور: سعيد بن علي بن وهف القحطاني

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام　جمعية الربوة　رواد الترجمة　المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com


بسم الله الرحمن الرحيم

# دعاء؛ له کتاب او سنت څخه

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [الأعراف: 180]

او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول1

---

1 سورة الأعراف، الآية: 180.

المتین: سخت ځواکمن ذات چې ځواک یې پای نه لري او په کړنو کې سختي نه ویني

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الله | تر ټولو مخکښې | تر ټولو وروستی | څرګند ښکاره | پټ |
| د لوی مرتبې خاوند | لوړ | تر ټولو پورته لوی د عزت خاوند | د ډیر لوی شان خاوند | هرڅه اوریدنکی |
| هر څه لیدونکی | پراخ علم لرونکی | خبرداره | د حمد او تعریف لایق | پرتولو غالب |
| ځواک لرونکی | د قدرت خاوند | د قدرت ښکاره کوونکی | ځواکمن | المتین |
| غني؛ بې نیازه | د لوی حکمت خاوند | ډیر مهربان | د ګناه عفوه کوونکی | بخښونکی |
| ډیر بخښونکی | ډیر ژر توبه قبلوونکی | لوی ساتونکی | هر وخت په هر ځای کې حاضر او ناظر | ساتونکی |
| په بارکیو پوه | نږدې | دعا قبلوونکی | ډیر محبت کوونکی | الشاکر: هغه ذات چې په لږ عمل ډیره بدله ورکوي |
| الشکور: د بنده د اعمالو قدر کوونکی | سردار | بې نیازه | زورور | پرتولو زورور |
| ترټولو زبردست | د ټولو لپاره کافي | سمه لار ښوونکی | فیصله کوونکی | له ټولو عیبونو څخه پاک |
| د ټولو نقصاناتو څخه پاک | نیکي کوونکی | هر شی ورکوونکی | ډیرمهربانه | ډیر رحم کونکی |
| سخا کوونکی | ډیر سخا کوونکی | ډیر شفقت کوونکی | اسانوونکی | مطلق |
| روزي ورکوونکی | ډیر روزي ورکونکي | همیشه ژوندی پاته کیدونکی | ډیر قائم ساتونکی | پیداکوونکی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حقيقي بادشاه | د ټول جهان مالک | يو او يوازي | د لويې خاوند، د هر شي پيداکوونکی | نوښتګر |
| ساه اچوونکی | صورت جوړوونکی | امن ورکوونکی | ساتونکی او نګهبان | احاطه کوونکی |
| مخلوق ته په روزۍ سره قوت ورکوونکی | لوی کار ساز | کفايت کوونکی | پراخي ورکوونکی | حق |
| ښايسته | نرمي کوونکی | ډير حيا کوونکی | ډير ستر او پوښوونکی | معبود |
| د هر شي منع کوونکی | پراخه روزي ورکوونکی | ورکوونکی | مخکې کوونکی | وروسته کوونکی |
| ښکاره کوونکی | احسان کوونکی | مدد ګار | ولی او بادار | ملاتړ کوونکی |
| شفا ورکوونکی | | | د ټول جهان مالک | |
| د خلکو راټولونکی، د اسمانونو او ځمکې رڼا، د عظمت او عزت خاوند | | | د اسمانونو او ځمکې نوښتګر[2] | |

[2] ۲] دغه نومونه له کتاب او سنت څخه له خپلو دلايلو سره په کتاب : (شرح أسماء الله الحسنى في ضوء الكتاب والسنة) کې وګورئ ... د ليکوال .

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

إِنَّ الحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ،وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ، وَسَلَّمَ تَسْلِيماً كَثِيراً. أَمَّا بَعْدُ:

دا زما د کتاب ((الذِّكْرُ وَالدُّعَاءُ وَالعِلاَجُ بِالرُّقَى مِنَ الكِتَابِ وَالسُّنَّةِ)) [٣] لنډیز دی، چې ما د دعا برخه لنډه کړې ده؛ د استفادې د اسانه کولو لپاره مې دعاګانې او ګټورې ګټې اضافه کړې، ان شاء الله تعالی،او زه له الله – عزوجل – څخه په خپلو ښکلو نومونو او لوړ صفتونو سوال کوم چې د خپل عزتمن مخ لپاره یې خاص وګرځوي، ځکه چې هغه مددګار او پر هغه قادر دی.3

وَصَلَّى اللَّهُ، وَسَلَّمَ، وَبَارَكَ عَلَى نَبِيِّنا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ، وَأَصْحَابِهِ، وأَتْبَاعِهِ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّين.

**ليکنه**

**سعيد بن علي بن وهف القحطاني**

**د شعبان د مياشتې په ۱۴۰۸ هجري کال کې ليکل شوی دی**

---

[3] ٣] او الحمدلله پورتنی د احادیثو ټولګه له پراخه تخریج سره په څلورو ټوکونو کې چاپ شوی: په لومړي او دویم ټوک کې اذکار ((حصن المسلم))، په دریم ټوک کې دعاګانې، او په څلورم ټوک کې په دم او دعا سره درملنه.

# د دعا فضیلت

الله تعالی فرمایلي :(او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسي حال کې چې خوار او ذليله به وي)[4]،.او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو يقيناً زه قريب يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ايمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي).او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:((الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ، (دعا عبادت دی)،ستاسو رب فرمایلي دي:((ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ))5، ((ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ))6، (تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم).او هغه صلی

---

[4] حاكم په 541/1، او زوائد په مسند البزار، 442/2، ټوک 2177، او الطبراني په 1435 ټوک کې تخريج کړې دی، او الهيثمي په مجمع الزوائد، ١٠/ ١٧٩: کې ذکر کړې دي . ((د طبراني اسناد جيد دی)).

[5] ترمذي 5/ 566 او 5/ 462 په شمېره 3573، او احمد 3/ 18 شمېره 11150 روايت کړی، او البانی په صحيح الجامع الصغير 5/ 116، او صحيح سنن الترمذي ٣/ ١٤٠ کې صحيح ګڼلی دی.

[6] اصل وګورئ، 3/ 863 – 926.

الله علیه وسلم فرمايلي دي:((إِنَّ رَبَّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا))، ( په حقيقت کې ستاسو پروردګار - تبارک وتعالی - ډېر حياناک عزتمن دی، له خپل بنده نه حيا کوي، کله چې لاسونه ورته پورته کړي او بېرته يې تش ورګرځوي).او هغه صلی الله علیه وسلم فرمايلي:((مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ ، إِلَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ بِهَا إِحْدَى ثَلَاثٍ: إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا))، قَالُوا : إِذًا نُكْثِرُ ؟ ، قَالَ : ((اللَّهُ أَكْثَرُ)). (هيڅ مسلمان نشته چې دعا وکړي او ګناه او د خپلوی پرې کول پکې نه وي، مګر دا چې الله به هغه ته له دريو شيانو څخه يو ورکړي: يا به د هغه دعا ژر تر ژره قبوله کړي، او يا به يې په آخرت کې د هغه لپاره ذخيره کړي، او يا به د هغه په اندازه له هغه څخه بدۍ لیرې کړي)) هغوی وويل: نو زياته به يې کړو؟ ويې فرمايل: (الله زيات دی) [٨] [٩] .

د دعا آداب او د اجابت سببونه:[7]

١- له الله سره اخلاص.

٢- چې د الله تعالی په حمد او ثنا سره پيل وکړي، او په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ووايي، او په همدې سره درود پای ته رسوي.

٣- په دعاء کې عزم، او قبلېدو باندې يقين کول.

۴- د دعاء ډېر تکرارول (اصرار کول) او بېړه نه کول.

۵- په دعا کې د زړه حضور ساتل.

---

[7] دغه آداب او د اجابت اسباب سره له دلايلو يې په اصل کې 927/3- 975 وګورئ.

۶- د هوسایني او مصیبت په وخت کې دعا کول.

۷- سوال یوازې دَ الله تعالی څخه غوښتل کیږي.

۸- خپلې کورنۍ، مال، او اولاد او یا د خپل ځان لپاره له ښېرا څخه ډډه کول.

۹- د دعاء په وخت کې غږ ټیټ ساتل، د ټیټ او لوړ اواز تر منځه.

۱۰- ګناه باندې اقرار کول، او د هغه څخه بخښنه غوښتل، او نعمت باندې اقرار کول، او نعمت باندې د الله تعالی شکر ادا کول.

۱۱- په دعا کې له سجعې او شاعرۍ څخه ډډه کول.

۱۲- عاجزي، خشوع، رغبت او وېره.

۱۳- له توبې سره د ظلمونو او حقونو بېرته ګرځول.

۱۴- درې ځلې دعا تکرارول.

۱۵- قبلې ته مخامخ کېدل.

۱۶- په دعا کې د لاسونو پورته کول.

۱۷- که امکان ولري له دعا مخکې اودس کول.

۱۸- په دعاء کې تجاوز نه کول.

۱۹- دعا کوونکی باید له خپل ځان څخه پیل وکړي که چېرته و غواړي د بل چا لپاره دعا وکړي [۱۱] .[8]

۲۰- الله جل جلاله ته د هغه په ښکلو نومونو او لوړو صفتونو باندې توسل کول، یا د صالح عمل په وسیله چې دعا کوونکي په خپله ترسره کړي وي، او یا د ژوندي او حاضر صالح انسان په دعا سره.

۲۱- دا چې خوراک، څښاک او لباس له حلال مال څخه وي.

۲۲- د ګناه او د خپلوۍ د پرې کولو لپاره به دعا نه کوي.

۲۳- په ښو به امر کوي او له بدو څخه به منعه کول کوي.

۲۴- له ټولو ګناهونو څخه ځان ساتل.

وختونه، حالات او هغه ځایونه چې دعاګانې پکې قبلیږي [۱۲] :[9]

۱- د قدر شپه.

۲- د شپې وروستۍ برخه.

---

[8] ثابته شوې ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل ځان څخه دعا پیل کړې، او دا هم ثابته ده چې له ځانه یې ندہ پیل کړې، لکه انس، ابن عباس، ام اسمعیل او نورو لپاره دعا کول. د دې مسئلې د تفصیل لپاره په صحیح مسلم د نووي شرحه، 144/15، او تحفة الأحوذي شرح سنن الترمذي، 328/9، او د فتح الباري شرح صحیح البخاري ج281/1 ته مراجعه وکړئ.

[9] دغه وختونه، حالات او ځایونه له تفصیلي دلایلو سره په اصل، 3/ 975- 1117 کې وګورئ.

۳- د فرض لمونځونو څخه وروسته.

۴- د اذان او اقامت تر منځ.

۵- یو ساعت په هره شپه کې.

۶- د فرض لمونځونو لپاره د اذان پر مهال.

۷- د باران وریدو پر مهال.

۸- کله چې د الله په لاره کې صفونه خوځښت کوي.

۹- د جمعې په ورځ یو ساعت.

او تر ټولو صحیح قول دا دی چې دا د جمعې په ورځ د مازدیګر وروستی ساعت دی، او ممکن د خطبې او جمعې لمانځه ساعت وي.

۱۰- کله چې د زمزم اوبه په ریښتیني نیت سره وڅښل شي.

۱۱- په سجده کې.

۱۲- کله چې د شپې له خوبه پاځیږي، او په هغه څه چې په اثارو کې راغلي دعا وکړي.

۱۳- کله چې په اوداسه سره ویده شي او بیا د شپې له خوبه پاڅي او دعا وکړي.

۱۴- کله چې په (لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ)، سره دعا وشي.

۱۵- د مړي له مړینې وروسته د خلکو دعا.

۱۶- په اخري تشهد کې د الله له حمد او ثنا او پر محمد -صلی الله علیه وسلم- درود ویلو وروسته دعا کول.

۱۷- کله چې له الله څخه د هغه په سپېڅلي نامه دعا وکړای شي، کله چې هغې سره بلنه وکړی شي اجابت کوي یې، او کله چې تري څه وغوښتل شي، ورکوي یې [۱۳] .[10]

۱۸- د مسلمان دعا د خپل مسلمان ورور لپاره د هغه په غیاب کې.

۱۹- په عرفات کې د عرفې د ورځې دعا.

۲۰- د رمضان په میاشت کې دعا.

۲۱- کله چې مسلمانان د ذکر په مجلس کې راغونډ شي.

۲۲- د مصیبت پر مهال په: (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي ، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) سره دعا کول، یعنې (موږ د الله یو او هغه ته ورګرځو. ای الله زما د مصیبت بدله راکړه، او د هغې څخه ماته غوره بدله راکړه).

۲۳- هغه مهال دعا کول چې انسان په زړه سره الله تعالی ته عرض کړی وي او په دعا کې سخت اخلاصمند وي.

۲۴- د مظلوم ښېراوې هغه چاته چې ظلم یې ورباندې کړی وي.

۲۵- د پلار دعا او د هغه ښېراوې د خپل زوی په حق کې.

[10] ۱۳] اسم الله الاعظم په حدیث نمبر ۲۰۳، ۱۰۴ او ۱۰۵ شمېرو سره په همدې کتاب کې وګورئ.

۲۶- د مسافر دعا.

۲۷- د روژه لرونکي دعا تر هغه وخته پورې چې روژه ماته کړي.

۲۸- د روژه ماتي پر مهال د روژه لرونکي دعا.

۲۹- د محتاج او اړمن دعا.

۳۰- د عادل امام دعا.

۳۱- د نیک اولاد دعا د خپل مور او پلار لپاره.

۳۲- د اودس نه وروسته دعا که چېرته په ثابتو شوو دعاګانو سره دعا وکړي.

۳۳- د کوچنۍ جمرې د ویشتلو نه وروسته دعا.

۳۴- د منځنۍ جمرې له ویشتلو نه وروسته دعا.

۳۵- د کعبې دننه دعاء کول، او څوک چې حجر کې دننه لمونځ وکړي هغه د کعبې څخه شمېرل کیږي.

۳۶- صفا ( غونډۍ ) د پاسه دعا کول.

۳۷- د مروه ( غونډۍ ) د پاسه دعا کول.

۳۸- په مشعر الحرام کې دعا کول.

او مؤمن په هر ځای کې چې وي هر وخت خپل رب نه دعا غواړي، الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ۝١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان پوښتنه وکړي، نو يقينًا زه نږدې يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ايمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي).[11]، مګر دا وختونه، شرايط او ځايونه د ډېرو ځانګړتياوو څخه برخمن دي.

[11] ۱۴] سوره البقره، آيت: ۱۸۶.

# له کتاب او سنت څخه دعا

الْحَمْدُ لِلهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلاةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى مَنْ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ.

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧﴾ [الفاتحة: 1-7]

1- (د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی * ټول (د كمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی * ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی * د بدلې د ورځې مالك * مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو * ته مونږ ته سَمَه (نیغه) لاره وښَیه* د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ چې نه پر هغوی باندې غضب شوی او نه ګمراهان دي.)[12].

﴿...رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧﴾ [البقرة: 127]

2- (زمونږ نه (دا عمل) قبول کړه، ته چې يې، خاص ته، ښه اوريدونکی، ښه عالم يې)[13].

[12] سورة الفاتحة، آيتونه 1- 7.

[13] سورة البقرة، آيت: 127.

﴿رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٨﴾ [البقرة: 128]

3- (او زمونږه توبه قبوله کړه، يقيناً همدا تهٔ ډير ښه توبه قبلوونکی، بي حده رحم کوونکی يي).[14].

﴿... رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ٢٠١﴾ [البقرة: 201]

4- (اي زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا کي نعمت راکړه او په اخرت کي (هم) نعمت راکړه او مونږ د اور له عذابه وساته) .[15].

﴿... سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

5- (مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی) .[16].

﴿... رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦﴾ [البقرة: 286]

---

[14] سورة البقرة، آيت : 128.

[15] سورة البقرة، آيت : 201.

[16] سورة البقرة، آيت : 285.

6- (اي زمونږه ربه! مونږ مه نیسه که مونږ (څه حکم) هېر کړو، یا مونږ غلطي وکړو، ای زمونږه ربه! او په مونږ باندي بوج مه ږده؛ لکه څنګه چي تا هغه (بوج) ایښی و په هغو خلقو باندي چي له مونږ نه مخکي وو، ای زمونږه ربه! او پر مونږ باندي داسي څه مه راباروه چي په مونږ کي د هغو (د اوچتولو) هېڅ طاقت نه وي او مونږ ته معافي وکړه او مونږه وبخښه او پر مونږ رحم وکړه، هم ته زمونږ کارساز يې، نو د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه) [17].

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ۝٨﴾ [آل عمران: 8]

7- (ای زمونږه ربه! زمونږ زړونه مه کږوه وروسته له دي چي تا مونږ ته سمه لار وښودله او مونږ ته له خپلي خوا نه رحمت راکړه، یقیناً هم ته، (د نعمت او رحمت) بي حده عطا کوونکی يې)[18].

﴿... رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ۝١٦﴾ [آل عمران: 16]

8- (اي زمونږه ربه! یقیناً مونږ ایمان راوړی دی، نو مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او مونږ د اور له عذابه وساته) [19].

﴿... رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ۝٣٨﴾ [آل عمران: 38]

---

17 سورة البقرة، آيت: 286.

18 سورة آل عمران، آيت: 8.

19 سورة آل عمران، آيت: 16.

9- (اې زما ربه! ما ته له خپلې خوا نه ښه پاکيزه اولاد راکړه، يقينًا ته د دعا ښه اورېدونکی يې).[20]

﴿رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ۝٥٣﴾ [آل عمران: 53]

10- (اې زمونږه ربه! مونږ ايمان راوړی دی په هغه څه چې تا نازل کړي دي او مونږ د رسول تابعداري کړې ده، نو ته مونږه (د حق) له ګواهي کوونکو سره وليکه).[21]

﴿وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ۝١٤٧﴾ [آل عمران: 147]

11 -(اې زمونږه ربه! مونږ ته زمونږ ګناهونه او په خپل کار کې زمونږه اسراف کول (له حد نه تېرېدل) وبخښه او زمونږه (پښې) قدمونه ټينګ کړه او د کافر قوم په مقابله کې زمونږ مدد وکړه).[22]

---

[20] سورة آل عمران، آيت: 38.

[21] سورة آل عمران، آيت: 53.

[22] سورة آل عمران، آيت: 147.

﴿... رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ۝١٩١ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ۝١٩٢ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ۚ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ۝١٩٣ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ۝١٩٤﴾ [آل عمران: 191-194]

12- (اې زمونږه ربه! تا دا عبث نه دي پیدا کړي، تا لره پاکي ده، نو ته مونږه (د جهنم) له اور نه بچ کړه. * اې زمونږه ربه! بېشکه ته چي څوک اور ته داخل کړې، نو یقینًا تا هغه رسوا کړ او د ظالمانو لپاره هیڅوك مدد کوونکي نشته. * اې زمونږه ربه! بېشکه مونږه یو اواز کوونکی واورېده، چي ایمان ته يې بلنه کوله، (او دا يې ویل) چي په خپل رب باندې ایمان راوړئ، نو مونږ ایمان راوړ، اې زمونږه ربه! نو ته مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او له مونږ نه زمونږ بدۍ لرې کړه او مونږ ته وفات راکړه، په داسې حال کې چي د نېکانو له ډلې سره یو* زمونږه ربه! او مونږ ته هغه (ثوابونه) راکړه چي تا له مونږ سره د خپلو رسولانو په ژبه (د هغو) وعده کړې ده، او د قیامت په ورځ مونږ مه رسوا کوه، بېشکه ته د وعدې مخالفت نه کوې.)[23].

﴿... رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ۝٨٣﴾ [المائدة: 83]

---

[23] سورة آل عمران، آیتونه: 191-194.

13- (اې زمونږه ربه! مونږ ایمان راوړی دی، نو ته مونږ له ګواهي کوونکو سره ولیکه).[24]

﴿... رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣﴾ [الأعراف: 23]

14- (اې زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو) .[25]

﴿۞...رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٧﴾ [الأعراف: 47]

15- (ای زمونږه ربه! مونږ له ظالم قوم سره مه یو ځای کوه ).[26]

﴿... أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ١٥٥ ۞ وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ ...١٥٦﴾ [الأعراف: 155-156]

---

[24] سورة المائدة، آیت: 83.

[25] سورة الأعراف، آیت: 23.

[26] سورة الأعراف، آیت: 47.

16- (اې الله!( ته زمونږ کارساز يې، نو ته مونږ ته بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او ته تر ټولو غوره بخښونکی يې* او ته زمونږ لپاره په دې دنيا کې ښېګڼه وليکه او په اخرت کې هم)).[27]

﴿... حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ١٢٩﴾ [التوبة: 129]

17- (ما ته الله کافي دی، نشته دی هيڅ لايق د عبادت مګر هغه دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او هم هغه د عظيم عرش مالک دی).[28]

﴿... رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٥ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٨٦﴾ [يونس: 85-86]

18 - (اې زمونږه ربه! مونږ د ظالمو خلقو لپاره فتنه مه جوړوه. او په خپل رحمت سره مونږ ته له کافرو خلقو نه نجات راکړه).[29]

﴿... رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٤٧﴾ [هود: 47]

---

[27] سورة الأعراف، آيتونه: 155- 156.

[28] سورة التوبة، آيت: 129.

[29] سورة يونس، آيتونه: 85- 86.

19- (اې زما ربه! بېشکه زه په تا پورې پناه نیسم له دې نه چې له تا نه د هغه څه سوال وکړم چې ما ته د هغه په باره کې څه علم نه وي او که ته ما ته بخښنه ونه کړې او پر ما رحم ونه کړې (،نو) شم به زه له تاوانیانو نه)[30].

﴿...ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ١٠١﴾ [یوسف: 101]

20- اې الله! (اې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکیه! په دنیا او اخرت کې هم ته زما کارساز یې، ته ما ته وفات راکړه، په داسې حال کې چې مسلمان یم او ته ما له نیکانو صالحانو سره یو ځای کړه)[31].

﴿ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ٣٥﴾ [إبراهیم: 35]

21- (اى زما ربه! ته دا ښار دَ امن والا وګرځوه، او ما او زما زامن دَ بتانو دَ بندګۍ نه وساته).[32]

﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ٤٠﴾ [إبراهیم: 40]

---

[30] سورة هود، آیت: 47.

[31] سورة یوسف،آیت: 101، او د زیاتي فایدې لپاره: کتاب الفوائد، د ابن القیم، 436 ، او437 مخونه وګوره.

[32] سورة إبراهیم، آیت: 35.

22- (اې زما ربه! ته ما د لمونځ همېشه قايموونکی وګرځوه او زما له اولاد څخه هم (د لمانځه قايمونکي وګرځوه)[33] ، اې زما ربه! او ته زما دعا قبوله کړې.

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ﴿٤١﴾﴾ [إبراهيم: 41]

23- (اې زمونږ ربه! ته ما وبخښه و زما مور و پلار او مومنان په هغې ورځ چې حساب به قايمېږي).[34]

﴿... رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةً وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدًا﴿١٠﴾﴾ [الكهف: 10]

24 - (ته مونږ ته له خپل جانب نه رحمت راکړه او زمونږ لپاره زمونږ په دې کار کې (اسباب د) هدايت برابر کړه).[35]

﴿قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي﴿٢٦﴾ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةً مِّن لِّسَانِي﴿٢٧﴾ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي﴿٢٨﴾﴾ [طه: 25-28]

25- (اې زما ربه! ته ما لره زما سينه (خلاصه) پرانيځهي* او ما ته زما کار اسان کړه. او زما له ژبې نه غوټه پرانيځه)[36].

---

[33] سورة إبراهيم، آيت: 40.

[34] سورة إبراهيم، آيت: 41.

[35] سورة الكهف، آيت: 10.

[36] سورت طه : 25-28 آيتونه

﴿... رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴾ [طه: 114]

26- (اې زما ربه ما ته (زما) په علم کې زياتوالی راکړې).[37]

﴿... لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [الأنبياء: 87]

27- (نشته هيڅ لايق د عبادت مګر ته يې، ته پاک يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم).[38]

﴿وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ﴾ [الأنبياء: 89]

28- (اې زما ربه! ما يوائې (بې اولاده) [39].مه پرېږده او ته ترټولو غوره وارث يې).

﴿وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ٩٧ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ ٩٨﴾ [المؤمنون: 97-98]

---

[37] سورت طه، آيت: 114.

[38] سورت الأنبياء، الآيت: 87.

[39] سورت الأنبياء، آيت: 89.

29- (اې زما ربه! زه په تا پورې پناه نيسم د شيطانانو له وسوسو نه. او زه په تا پورې پناه نيسم اې زما ربه! له دې نه چې دوی ما ته حاضر شي)[40].

﴿... رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾ [المؤمنون: 109]

30- (اې زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړی دی، نو ته مونږ ته بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او ته تر ټولو ډېر غوره رحم کوونکی يې).[41]

﴿... رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا﴾ [الفرقان: 65]

31- (اې زما ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه او ته ترټولو ډېر غوره رحم کوونکی يې).[42]

﴿إِنَّهَا سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا﴾ [الفرقان: 66]

32- (اې زمونږ ربه! ته زمونږ نه د جهنم عذاب وګرځوه، بېشکه د هغه عذاب همېشه لازمېدونکی دی).[43]

﴿... رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ [الفرقان: 74]

---

[40] سورت المؤمنون، آيتونه: 97- 98.

[41] سورت المؤمنون، آيت: 109.

[42] سورت المؤمنون، آيت: 118.

[43] سورت الفرقان، آيت: 65- 66.

33- (اې زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ له ښځو نه او زمونږ له اولادونو نه د سترګو یخ والی راوبخښه او ته مونږ د متقیانو امام وګرځوه)[44].

﴿رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ٨٣ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ٨٤ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ٨٥﴾ [الشعراء: 83-85]

34- (اې زما ربه! ما ته حکم (علم وحکمت) راکړه او ما له نېکانو سره پیوست کړه. * او زما لپاره په وروستنو خلقو کې د صدق ژبه (نېکنامي) وګرځوه. او ما د نعمتونو د جنت له وارثانو څخني وګرځوه)[45]

﴿وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ٨٧ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ٨٨ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ٨٩﴾ [الشعراء: 87-89]

35- (او ته ما مه شرموه په هغې ورځ کې چې خلق به بیا ژوندي کولی شي. * په هغې ورځ چې نه به مال نفع رسوي او نه زامن. مګر هغه چا ته چې الله ته په ډېر سلامت زړه راغی.)[46]

﴿... رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩﴾ [النمل: 19]

---

[44] سورت الفرقان، آیت:( 74).

[45] سورت الشعراء، : 83-85 آیتونه.

[46] سورت الشعراء، آیتونه: 87- 89.

36- (اې زما ربه! ته ما ته الهام او توفيق راکړه چې زه ستا د هغو نعمتونو شکر وباسم چې تا په ما او زما په مور او پلار انعام (او پېرزو) کړي دي او دا چې زه داسې نېك عمل وکړم چې ته يې خوښوې، او ته ما په خپل رحمت سره په خپلو نېکو بنده ګانو کې داخل کړه.)[47]

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٦﴾ [القصص: 16]

37(اې زما ربه! بېشکه ما په خپل ځان ظلم کړى دى، نو ته ما ته بخښنه وکړې).[48]

﴿... رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢١﴾ [القصص: 21]

38- (اې زما ربه! ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړې).[49]

﴿... عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهۡدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ٢٢﴾ [القصص: 22]

39- (امېد دى چې زما رب به ما ته نېغه لار راوښيي).[50]

﴿... رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ ٢٤﴾ [القصص: 24]

---

[47] سورت النمل، آيت: 19.

[48] سورت القصص، آيت: 16.

[49] سورت القصص، آيت: 21.

[50] سورت القصص، آيت: 22.

40- (اې زما ربه! بېشکه زه هر هغه خیز ته چې ته یې ما ته نازلوې له خیره خني؛ محتاج یم).[51]

﴿قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ۝٣٠﴾ [العنكبوت: 30]

41- (اې زما ربه! د فسادي قوم په مقابله کې ته زما مدد وکړه).[52]

﴿رَبِّ هَبۡ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝١٠٠﴾ [الصافات: 100]

42- (ې زما ربه! ته ما ته (زوی) راکړې، چې له صالحانو خني وي).[53]

﴿...رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ۝١٥﴾ [الأحقاف: 15]

43- (اې زما ربه! ته ما ته (الهام او) توفیق راکړه چې زه ستا د هغه نعمت شکر ادا کړم چې تا په ما او زما په مور او پلار انعام کړی دی او دا چې زه داسې نېک عمل وکړم چې ته یې خوښوې او ته زما په اولاد کې صلاحیت (او نېکي) کېږده، بېشکه ما تا ته توبه کړې ده او بېشکه زه له مسلمانانو خیني یم).[54]

[51] سورت القصص، آیت: 24.

[52] سورت العنكبوت، آیت: 30.

[53] سورت الصافات، آیت: 100.

[54] سورت الأحقاف، آیت: 15.

﴿... رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠﴾ [الحشر: 10]

44- (اې زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو ورونړو ته چې زمونږ نه یې په ایمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هيڅ بغض (او کینه) مه پیدا کوه چې ایمان یې راوړی دی ای زمونږه ربه! بیشکه ته ډیر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی یې)[55]

﴿... رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤﴾ [الممتحنة: 4]

45- (اې زمونږه ربه! خاص په تا باندې مونږ توکل کړی دی او خاص تا ته مو رجوع کړې ده او خاص تا ته بیرته درتګ دی).[56]

﴿رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٥﴾ [الممتحنة: 5]

46- (اې زمونږه ربه! ته مونږ د کافران شویو خلقو لپاره (ځای د) فتنې مه ګرځوه او ته مونږ ته مغفرت وکړه ای زمونږ ربه! بیشکه هم دا ته ډیر غالب، ښه حکمت والا یې).[57]

---

[55] سورت الحشر، آیت: 10.

[56] سورت الممتحنة، آیت: 4.

[57] سورت الممتحنة، آیت: 5.

﴿... رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨﴾ [التحريم: 8]

47- (اې زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ رڼا پوره کړه او مونږ وبخښه، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر يې).[58]

﴿رَّبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيۡتِيَ مُؤۡمِنٗا وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارَۢا ٢٨﴾ [نوح: 28]

48- (اې زما ربه! ته ما وبخښه او زما مور او پلار او هغه څوك (هم) چې زما كور ته داخل شي، چې ايمان لرونكى وي اومومن سړي او مومنې ښځې (وبخښه)).[59]

﴿...فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ٢١٣﴾ [البقرة: 213]

49- (اې الله ما ته په خپلې ارادې سره د هغه څه په اړه هدايت وكړه چې هغوى (كافرانو) په كې اختلاف كړى و او يوازې ته سمې لارې ته هدايت كوې هغه چا ته چې وې غواړې).[60]

---

[58] سورت التحريم، آيت: 8.

[59] سورت نوح، آيت: 28.

[60] له بقرې سورت څخه اخيستل شوى دى، آيت: 213.

﴿يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٦٩﴾ [البقرة: 269]

50- (اې الله ما ته حکمت (د دين پوهه) راکړه، هغه حکمت چې چا ته ورکړ شي، نو يقينًا هغه ته ډېر لوی خير ورکړی شو).[61]

﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ ...٢٧﴾ [إبراهيم: 27]

51- (اې الله! ما په ثابته خبره باندې مضبوط ولره، په دنيايي ژوند کې او په اخرت کې هم).[62]

﴿... ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ٧﴾ [الحجرات: 7]

52- (اې الله! مونږ ته ايمان محبوب وګرځوه او هغه زموږ په زړونو کې ښايسته کړه، او مونږ ته کفر او فسق او نافرماني کول ناخوښ وګرځوه، او مونږ په نيغه لاره ولره).[63]

---

[61] له بقرې سورت څخه اخيستل شوی دی ، آيت :269.

[62] له ابراهيم سورت څخه اخيستل شوی دی ، آيت: 27.

[63] له حجرات سورت څخه اخيستل شوی دی ، 7 آيت.

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ١٦﴾ [التغابن: 16]

53- (اې الله! ما د خپل نفس له بخیلۍ څخه وساته او ما له کامیابانو څخه وګرځوه).[64].

54- ((اللهمّ آتنا في الدنيا حسنة، وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار))65.

(اې الله مونږ ته په دنیا کې هم خیر راکړه او په آخرت کې هم خیر راکړه او د دوزخ له عذابه مو وساته).

55-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَشَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ قَلْبِي بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّ قَلْبِي مِنْ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنْ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْكَسَلِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ))66.

(اې الله زه پر تا د اور له فتنې او د اور له عذابه پناه نیسم،او د قبر له عذابه او شتمنۍ له فتنې،او د فقر له فتنې څخه په تا پناه نیسم، اې الله پر تا د دجال د فتنې له شر څخه پناه نیسم،اې الله! زما زړه د واورو او وریځو په اوبو ومینځه او زما زړه له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه څنګه چې ته سپینې

---

[64] له تغابن سورت څخه اخیستل شوی دی ، : 16 آیت.

[65] بخاري، په شمېره 4522، او شمېره 6389، او مسلم، په شمېره 2690.

[66] بخاري، په شمېره 832، او مسلم، 589 په شمېره روایت کړی دی.

جامې له ناپاکۍ څخه پاکوې او زما او د ګناهونو تر منځه دومره لرې والی راوله لکه څومره لرې والی دې چې د مشرق او مغرب تر منځ راوستی دی، ای الله زه پر تا له سستۍ، ګناه او قرض څخه پناه نیسم)

56-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ، وَالْهَرَمِ، والْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ))67.

(یا الله! زه پر تا له کمزورۍ، لټۍ،بزدلۍ، بخل، بوډاوالي (زوړوالي) نه پناه غواړم، او زه تاته د قبر له عذاب نه پناه دروړم او په تا د ژوند او مرګ له هر ډول فتنې څخه پناه نیسم).

57-((اللهمَّ إنِّي أعُوذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، وَسُوءِ الْقَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ))68.

(یا الله! تا ته پناه دروړم له سخت مصیبت څخه، او د راګیرولو د بدبختۍ څخه، او د (تقدیر) له بدې فیصلې څخه، او له دې څخه چې دښمنان په ما (زما په مصیبت) خوشحاله شي).

---

[67] بخاري، په شمېره 2823، او مسلم، په شمېره 2706 روایت کړی دی.

[68] بخاري، په 6347 شمېره، او مسلم، په 2707 شمېره، او لفظ يې داسې دی: (كان رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يتعوذ من جهد البلاء، ودرك الشقاء، وسوء القضاء،وشماتة الأعداء)، ( رسول الله صلی الله علیه وسلم به له سخت مصیبت، د بدبختۍ له راګیرولو ، او د (تقدیر) له بدې فیصلې، او له دې چې دښمنان په ما (زما په مصیبت) خوشحاله شي، الله ته پناه وړم).

58-((اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ))69.

(يا الله! ماته زما دين سم (برابر) کړه، هغه چې زما د هرې چارې ساتونکی (بچ کوونکی) دی، او ماته زما دنيا سمه (برابره) کړه، هغه چې زما ژوند په کې دی، او ماته زما آخرت سم (برابر) کړه، هغه چې زما ورته بېرته ګرځېدل دي، او ما ته ژوند د هرې ښېګڼې د زياتوالي لامل وګرځوه، او مرګ زما لپاره له هر شر څخه د راحت او آرامۍ لامل وګرځوه).

59- ((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى، وَالتُّقَى، وَالْعَفَافَ، وَالْغِنَى))70.

(يا الله! زه له تا څخه هدايت، تقوی، پاک لمنې او مالدارې غواړم).

60-(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ، وَالْبُخْلِ، وَالْهَرَمِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ، اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا، أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا)71.

(يا الله! زه له کمزورۍ، لټۍ،بزدلۍ، بخل، بوډوالي (زوړوالي) او د قبر له عذاب څخه تا ته پناه دروړم، يا الله ته زما نفس ته د هغه تقوا ورکړې، او هغه پاک کړې ته غوره پاکوونکی يې، ته د هغه دوست او مالک يې، يا الله! زه

[69] مسلم، 2720 شمېرې روايت کړی دی.

[70] مسلم 2721 شميره روايت کړی دی.

[71] مسلم، په 2722 شميره روايت کړی دی.

له بې ګټې علم څخه پناه غواړم، او د داسې زړه څخه چې عاجزي نه کوي (له الله تعالی څخه نه وېرېږي)، او له داسې نفس څخه چې نه مړېږي، او له داسې دعا څخه چې نه قبلېږي).

61- (اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ)[72].

(اې الله! ما ته هدايت وکړه او ما ته سمه لار وښايه، اې الله! زه له تا څخه د هدايت او سمې لارې غوښتنه کوم).

62- (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ)[73].

(يا الله! تا ته ستا د نعمت له زوال څخه پناه دروړم، او له دې چې روغتيا مې په ناروغتيا بدله نه شي، او پناه غواړم ستا له ناڅاپه عذاب څخه، او ستا له ټولو غضبونو څخه).

63- ((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ))[74].

(اې الله! زه پر تا پناه د هغه څه له شر څخه پناه نيسم چې ما کړي دي، او د هغه څه له شر څخه چې ما ندي کړي).

---

[72] مسلم 2725 شميره روايت کړی دی.

[73] مسلم په 2739 شميره روايت کړی.

[74] مسلم، 2716 شمېره روايت کړی.

64-(اللَّهُمَّ أكْثِرْ مَالِي، وَوَلَدِي، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أعْطَيْتَنِي) [75]،

(اې الله زما مال او اولاد ډير كړه، او په هغه څه کې چې تا ماته راکړي دي برکت واچوه) ،

([وَأطِلْ حَيَاتِي عَلَى طَاعَتِكَ، وَأحْسِنْ عَمَلِي،] وَاغْفِرْ لِي)[76].

(او زما عمر ستا په اطاعت کې اوږد كړه، او زما عمل غوره وګرځوه، او ماته ببښنه وكړه).

65- ((لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ، وَرَبُّ الْأَرْضِ، وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ))[77].

(نشته د عبادت وړ پر حقه سره پرته له لوی او زغم لرونکي ذات څخه، نشته د عبادت وړ په حقه سره پرته له الله تعالی څخه، چې د لوی عرش

---

[75] دغه دعا باندې أنس رضي الله عنه ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا دلالت كوي : (اې الله د هغه مال او اولاد ډير كړه او په هغه څه کې ورته برکت واچوه چې تا ورکړې دي) بخاري، په 1982 شمېره، او مسلم په 660 شمېرې سره روايت كړې دی.

[76] [۷۹ بخاري په الادب المفرد ۶۵۳ شمېرې، او الباني په سلسلة الاحاديث الصحيحه کې ۲۲۴۱ شمېره او په صحيح الادب المفرد ۲۴۴ کې مخ کې، او هغه څه چې د مربع قوسونو په مينځ کې دي د هغه -صلى الله عليه وسلم- له قول څخه څرګنديږي، کله چې ترې وپوښتل شو : په خلکو کې غوره څوک دی؟ هغه وفرمايل: (( هغه څوک چې اوږد عمر او نيک عمل ولري)) ترمذي په ۲۳۲۹ شمېره او احمد په ۱۷۷۱۶شميره او الباني په صحيح ترمذي ۲/ ۲۷۱ کې صحيح بللي ، و له شيخ ابن باز رحمه الله څخه مې د دعا په هكله وپوښته چې آيا سنت ده؟ هغه وفرمايل: (هو)

[77] ۸۰] بخاري په شمېره ۶۳۴۵ او مسلم په شمېره ۲۷۳۰ کې.

ښېښتن دی، نشته د عبادت وړ پرته له الله تعالی څخه، چې د آسمانونو، ځمکې او د عزتمن عرش رب دی). [۸۰]

66- ((اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ))[78].

(یا الله! ستا رحمت ته امیدوار یم، نو ما خپل نفس ته د سترګي د رپ په اندازه هم مه سپاره، او زما ټول کارونه برابر کړه، بېشکه پرته له تا د عبادت لایق بل څوک نه شته).

67- ((لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ))[79].

(له تا پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، ته پاک يې، بېشکه زه له ظالمانو څخه وم).

68- ((اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ

---

[78] ابو داود، په شمېره 5090، او احمد، 42/5، او الباني في صحيح ابو داود، 3/ 250، او په صحيح الأدب المفرد، 260، او اسناد يې علامه ابن باز په تحفة الأخيار،مخ 24 حسن بللی دی.

[79] ترمذي په 3505 شميره، او حاکم، او ذهبي په 505/1 صحيح بللی او توافق يې ورسره کړی، او الباني په صحيح الترمذي 168/3 کې صحيح بللی، او د هغه لفظ : (د ذوالنون دعا چې کله د ماهي په ګېډه کې و، نو اواز يې وکړ:(لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ)، (له تا پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، ته پاک يې، بېشکه زه له ظالمانو څخه وم)، هيڅ مسلمان نشته چې دغه دعا وکړي مګر دا چې الله د هغه دعا قبلوي)).

فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجَلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي))[80].

(يا الله! زه ستا بنده، ستا د بنده او ستا د وينځې زوي يم، زما تندی (د تندي ويښتان) ستا په لاس کې ده، ستا حکم پر ما جاري دی، ستا پرېکړه زما په اړه عادلانه ده، ستا په ټولو هغو نومونو له تا څخه سوال کوم، چې تا پرې خپل ځان نومولی، او يا دې له خپلو بندګانو څخه چاته ښودلی دی، او يا دې په خپل کتاب کې رالېږلی دی، او يا دې په پټ علم کې له ځان سره ساتلی، دا چې قرآن کريم زما د زړه پسرلی، او زما د سينې رڼا او زما د غمونو لرې کوونکی او زما د مصيبت او پريشانی له منځه وړونکی وګرځوه).

69- ((اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ القُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ))[81].

(اې د زړونو اړوونکيه! زمونږ زړونه ستا پر تابعداری ټينګ کړه).

70- (يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّت قَلْبِي عَلَى دِينِكَ)[82].

(اې د زړونو نسکورוونکيه!، زما زړه ستا په دين همېشنی (ثابت) کړه).

---

[80] احمد، 391/1، 452، او حاکم 509/1، او حافظ په تخريج الاذکار کې حسن بللی، او الباني په تخريج الکلم الطيب کې دا صحيح بللی دی ، ۷۳ مخ.

[81] مسلم، په شمېره 2654.

[82] ترمذي په 3522 شميره، احمد، 182/4، حاکم 525/1، 528، او ذهبي صحيح بللی او له هغه سره موافق دی، او الباني په صحيح الجامع، 309/6، کې صحيح بللی ، او په صحيح الترمذي 171/3 کې ام سلمه رضي الله عنها فرمايي: (( دا د هغه -صلی الله عليه وسلم- تر ټولو زياته دعا وه)).

71- ((اللَّهُمَّ إِنِّي أسْأَلُكَ[الْيَقِينَ]و [الْعَفْوَو] الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ))[83].

(اي الله له تا څخه د(یقین)او (بخښنې) عافیت غوښتنه په دنیا او آخرت کې کوم).

72- ((اللهمّ أحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الأُمُورِ كُلِّهَا، وَأجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الآخِرَةِ))[84].

(اي الله په ټولو چارو کې مونږ پایله ښه وګرځوه،او د دنیا له ذلت او د آخرت له عذابه مو وساته).

73-((رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الهُدَى إِلَيَّ، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطْوَاعًا، إِلَيْكَ مُخْبِتًا أَوَّاهاً مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ

---

[83] ترمذي په شمېره 3514 ، او بخاري په الادب المفرد کې په 726 شمېره ، او لفظ يې په ترمذي کې دی : ((سلوا الله العافية في الدنيا والآخرة))، (( له الله څخه په دنیا او آخرت کې د خیر غوښتنه وکړئ )) . او په بل روایت کې: ((سلوا الله العفو والعافية فإن أحداً لم يعط بعد اليقين خيراً من العافية))، ((له الله څخه بښنه او عافیت وغواړئ، ځکه چې له یقین وروسته هیچا ته له یقین غوره څیز ندی ورکړ شوی پرته له عافیت څخه))، او الباني په صحيح ابن ماجه 180/3، او 185/3 کې صحیح بللی دی. 170/3، او هغه لره شواهد شته، او د امام احمد په مسند کې د احمد شاکر په ترتیب سره ترتیب کړې دی، 157-156/1 .

[84] احمد، 181/4، او الطبرانی په الکبیر، 33/2/ 1169، او په دعا کې، په شمېره 1436، او ابن حبان، په شمېره 2424، 2425 (موارد)، الحافظ الهیثمي په مجمع الزوائد،178/10 کې ويلي: احمد او طبراني د اسانيدو خلک ثقه دي.

تَوْبَتِي، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي، وَاهْدِ قَلْبِي، وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ قَلْبِي))[85].

(پروردګاره، له ما سره مرسته وکړه، مګر زما پر خلاف له چا سره مرسته مه کوه، زما نصرت وکړه، مګر زما پر خلاف له بل چا سره نصرت مه کوه، زما چاره وکړه مګر زما خلاف چاره مه جوړوه، ما ته لاربشوونه وکړه او زما لاربشوونه آسانه وګرځوه، او ماته په هغه چا بريا راکړه چې پر ما ظلم کوي، اې ربه، ما شکرګزار (منندوی)، ذکر کوونکی، وېره کوونکی، اطاعت کوونکی، خشوع کوونکی، دعا کوونکی، او تا ته رجوع کوونکی وګرځوه، اې ربه توبه قبوله کړه، زما غم لرې کړه، زما دعاګانې قبولې کړه، زما قول (او ايمان) ثابت ولره، زما زړه ته هدايت  وکړه، زما ژبه سمه کړه او زما د زړه بدوالی لرې کړه).

74-((اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ -صلى الله عليه وسلم- ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ -صلى الله عليه وسلم- ، وَأَنْتَ الْمُسْتَعَانُ، وَعَلَيْكَ الْبَلَاغُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ))[86].

(اې الله! موږ له تا څخه د هغه خير غوښتنه کوو چې ستا پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم له تا څخه غوښتلي دي، او د هغه څه له شر څخه تا ته

---

[85] بخاري په الادب المفرد شمېره 664، او 665، ابوداود،  1510، 1511، او ترمذي، په شمېره 3551، ابن ماجه په شمېره 3830، احمد 127/1، او حاکم او الذهبي صحيح بللی او ورسره موافق دی، 519/1 او الباني په صحيح ابي داود، 414/1 کې صحيح بللی دی. او په ترمذي، 178/3 کې په شمېره دی.

[86] ترمذي، په  3521 شمېره، او ابن ماجه، په  3846 شميره، په هماغې معنا سره، او ترمذي ويلي دي: ((دا حديث حسن غريب دی))، او  الباني په ضعيف الترمذي کې، 387 مخ کې ضعيف بللی دی.

پناه درورو چې ستا پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ترې پناه غوښتې ده، او ته مرستندوی يې او رسول تا پورې اړه لري، او له الله پرته ځواک او طاقت والا نشته).

75-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي))[87].

(اې الله زه پناه نيسم پر تا د خپل غوږ له شر څخه، زما د سترګو له شر څخه، زما د ژبې له شر څخه، زما د زړه له شر څخه او زما د مني له شر څخه.

76-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ))[88].

(اې الله زه پناه نيسم پر تا له پيس (برګې مرض)، ليونتوب، هډوکي خوړونکي مرض او له بدو ناروغيو څخه پناه غواړم).

---

[87] ابو داود، په 1551 شمېره، او ترمذي، په 3492 شميره، او نسائي، په شمېره 5470، او نور هم. او الباني په صحيح الترمذي، 166/3، او صحيح النسائي، 1108/3 کې صحيح بللی دی.

[88] ابوداود په شميره 1554، نسائي په شميره 5493، او احمد په شميره 192/3 ، او الباني په صحيح النسائي شميره 1116/3 او صحيح الترمذي 184/3 شميره کې صحيح بللی دی.

77-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ، وَالْأَعْمَالِ، وَالْأَهْوَاءِ))[89].

(اې الله زه تا ته د ناوړه اخلاقو، کړنو، او د هوا او هوس څخه پناه دروړم).

78-((اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي))[90].

(یا الله! ته زیات بخښونکی پتمن يې، بخښنه خوښوې، نو ماته بخښنه وکړه).

79-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي، وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةَ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ))[91].

(یا الله له تا څخه د نیکۍ کولو، بدیو پرېښودلو، له مسکینانو سره مینې کولو غوښتنه کوم، او کله چې ته د خپلو بنده ګانو د ازمایښت او عذاب پرېکړه وکړې، نو ما خپل لوري ته درواخله (مړ مې کړه) پرته له دې چې په فتنې او

---

[89] ترمذي په شمیره 3591، ابن حبان په شمیره 2422 (موارد)، او حاکم په 532/1، او طبراني په الکبیر شمیره 36/19/19. او البانی په صحیح ترمذی 184/3 کې صحیح بللی دی.

[90] ترمذي، په شمیره 3513، او نسائي په الکبری په شمیره7712، او الباني په صحیح الترمذي شمیره 170/3 کې يې صحیح بللی دی.

[91] احمد دغه لفظ په شمیره 243/5 او همدارنګه ترمذي په شمیره 3235، کې حسن بللی دی، او وېې ویل: ما له محمد بن اسماعیل – یعني بخاري – څخه وپوښتل او وېې ویل: ((دا یو حسن او صحیح حدیث دی)) او د حدیث په پای کې هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((دا حق دی، نو وېې لولئ او زده يې کړئ)) او حاکم په شمیره 521/1 کې، او الباني په صحیح ترمذي3/ 318 کې يې صحیح بللی دی.

عذاب اخته شم، او له تا څخه ستا د میني او د هغه چا د میني غوښتنه کوم، چې له تا سره مینه کوي، او له هغه عمل سره مینه (محبت) در څخه غواړم، کوم عمل چې ستا میني ته نږدېوالی کوي).

80-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ: عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ [مَا اسْتَعَاذَ بِكَ [مِنْهُ] عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا))[92].

(یا الله! زه له تا څخه د ټول بېړني او وروستنی خیر غوښتنه کوم، هغه چې زه پرې خبر یم او هغه چې زه ترې ناخبره یم، او تا ته پناه دروړم له هر بېړني او وروستني شر څخه، هغه چې زه پرې خبر یم او هغه چې زه ترې نا خبره یم، یا الله! زه له تا څخه د هغه خیر غوښتنه کوم چې له تا څخه ستا بنده او پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم غوښتي و، او تا ته له هغه شر څخه پناه دروړم له کوم څخه چې ستا بنده او پیغمبر پناه غوښتي وه، یا الله! زه له تا څخه جنت او هغه وینا او عمل غواړم چې جنت ته پرې نږدې کېدل کېږي، او له اور او هغې وینا او عمل څخه پناه غواړم چې په هغې سره اور ته نږدې کېدل

[92] ابن ماجه په 3846 شمېره د هغه په لفظ، او احمد په 134/6 شمېره، او د اضافه لفظ او دویم د هغه دی، او حاکم او هغه يې صحیح بللی دی، او ذهبي له هغه سره توافق کړی دی، 521/1، او لومړی اضافه لفظ د هغه دی، او الباني په صحیح ابن ماجه، 327/2 کې صحیح بللی دی.

کېږي، او له تا څخه غواړم چې هره فیصله (پرېکړه) چې زما په اړه کوې، هغه ماته خیر وګرځوې).

81-((اللَّهُمَّ احْفَظنِي بالإِسْلاَمِ قائِماً، واحْفَظْنِي بالإِسْلاَمِ قاعِداً، واحْفَظنِي بالإِسْلاَمِ راقِداً، ولا تُشْمِتْ بِي عَدُوّاً ولا حاسِداً. اللَّهُمَّ إِنِّي أسأَلُكَ مِنْ كُلِّ خَيْر خزائِنُهُ بِيَدِكَ، وأعُوذُ بِكَ مِنْ كُلِّ شَرٍّ خَزَائِنُهُ بِيَدِكَ))[93].

(یا الله تعالی ما په ولاړه، ناسته او خوب کې پر اسلام ټینګ وساته، او مه خوشحالوې پر ما هیڅ حسد کوونکی دښمن، یا الله له تا څخه د ټول خیر غوښتنه کوم، چې خزاني يې ستا په لاس کې دي، او له هر شر نه چې خزاني يې ستا په لاس کې دي پناه غواړم).

82-((اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا، اللَّهُمَّ مَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُوَّاتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا))[94].

(یا الله! ستا له وېرې مونږ ته دومره (برخه) راکړه چې زمونږ او د ګناهونو ترمنځ پرې لرې والی راشي، او ستا له تابعدارۍ څخه دومره (برخه) راکړه چې

---

[93] حاکم، 525/1 او ذهبي صحیح بللی او ورسره موافق دی، او الباني په صحیح الجامع 398/2 او سلسلة الأحاديث الصحيحة کې حسن بللی دی ، 54/4 په ، 1540 شمېره

[94] [۹۷] ترمذي په شمېره 3502، او الحاکم 528/1، او الذهبي تصحیح کړی او ورسره موافق دی، او ابن سني په شمېره 446 ، او الباني په صحیح ترمذي 168/3، او صحیح الجامع 400/1 کې حسن بللی دی.

ستا جنت ته مو پرې ورسوې، او له باور (يقين) څخه دومره راکړه چې په هغه سره د دنيا مصيبتونه (ناورينونه) مونږ ته سپک (کم) کړې، يا الله مونږ ته زمونږ په غوږونو، سترګو او ټولو قوتونو تر هغه وخته چې دې ژوند راکړی ګټه راورسوې، او زمونږ انتقام (غچ) يوازې د هغه چا لپاره وګرځوې چې پر مونږ يې ظلم کړی، او مونږ پر هغه چا بريالي کړې چې پر مونږ يې تېری او له مونږ سره يې دښمني کړې ده، او زمونږ مصيبت زمونږ په دين کې مه ګرځوې، او دنيا زمونږ تر ټولو ستره موخه او فکر مه ګرځوه، همدا راز دنيا زمونږ د علم آخري حد مه ګرځوه، او پر مونږ داسې څوک مه حاکموه، چې پر مونږ رحم نه کوي).

83-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعوذُ بِكَ مِنَ الجُبْنِ، وَأعُوذُ بِكَ مِنَ البُخْلِ، وَأعُوذُ بِكَ مِنْ أنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ العُمُرِ، وَأعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ القَبْرِ))[95].

(يا الله! زه له بزدلۍ څخه تا ته پناه دروړم، او تا ته له بخل نه پناه دروړم، او پر تا پناه نيسم لدې چې بوډوالي (زوړوالي) ته ورسيږم، او ددنيا له فتنې او د قبر له عذاب څخه تا ته پناه دروړم).

84-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي، وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي هَزْلِي، وَجِدِّي، وَخَطَئِي، وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي))[96].

(يا الله! ماته زما تېروتنې او زما ناپوهي وبخښه او په چارو کې بد خرچي کول راوبخښه، او په هغه څه کې چې ته پرې له ما ښه پوهيږې (د هغو بخښنه هم

---

[95] بخاري، په 2822 شميره .

[96] متفق عليه: بخاري، په شمېره 6398، او مسلم، په شمېره 2719.

راته وکړه)، یا الله ما ته مې د ټوکو او ریښتیا ګناهونه وبخښه، او زما تېروتنې، او زما په لوی لاس ګناهونه وبخښه، چې دا ټول ګناهونه په ما کې شته دي).

85-((اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ))[97].

( یا الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دی، او له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی، نو ماته له خپل لوري بخښنه وکړه، او پر ما مهرباني وکړه، بېشکه یوازې ته بخښوونکی او رحم کوونکی یې).

86-((اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي، أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ))[98].

(یا الله!  ما ستا حکم ته غاړه ایښې ده، او پر تا مې ایمان راوړی، او پر تا مې بروسه کړې، او تا ته راګرځېدلی یم، او ستا لپاره مې جګړه کړې، یا الله! زه ستا پر عزت او ځواک پناه غواړم، نشته په حقه سره معبود پرته له تا څخه، (پناه غواړم) له دې نه چې ته ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات یې چې هیڅ نه مړ کیږي، او پېریان او انسانان مړه کیږي).

---

[97] متفق علیه: بخاري ، په شمېره 834، مسلم، په شمېره 2705.

[98] متفق علیه: بخاري، په شمېره 6398، او مسلم، په شمېره 2719.

87-((اللَّهُمَّ إنَّا نَسْأَلُكَ مُوجِباتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزائِمَ مَغْفِرَتِكَ، والسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إثمٍ، والغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، والفَوْزَ بالجَنَّةِ، والنَّجاةَ مِنَ النَّارِ))[99].

(اې الله! موږ له تا څخه ستا د رحمت موجبات، ستا د بخښنې سببونه، له هرې ګناه څخه د حفاظت، له هرې نیکۍ څخه د برخمن کېدو، او جنت ته د رسېدلو او له دوزخ څخه د خلاصون غوښتنه کوو).

88-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ))[100].

(اې الله مومنو سړیو او مومنو ښځو ته بخښنه وکړه).

89-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِيمَا رَزَقْتَنِي))[101].

---

[99] حاکم 525/1، او ذهبي هغه يې تصحيح کړې او ور سره يې توافق کړی، او البيهقي په الدعوات شمېره 206 کې، او وګوره: الاذکار د نووي، مخ 340، او عبد القادر الأرنؤوط حسن بللی.

[100] د عباده رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايي: ((من استغفر للمؤمنين والمؤمنات كتب الله له بكل مؤمن ومؤمنة حسنة))، (( څوک چې د مومنانو سړيو او مومنانو ښځو لپاره استغفار وغواړي، الله به هغه ته د هر يو په بدل کې يوه نيکي وليکي )) الطبراني په الکبير، 5/ 202، کې په شمېره 5092، او 3/ 334، او په 2155 شميره، او الهيثمي په مجمع الزوائد، 210/10 کې ددې حديث اسناد اثبات کړی، او الباني په صحيح الجامع په شمېره 5902، 242/5 کې دغه حديث حسن بللی دی.

[101] احمد، په 4/ 63، شمېره 16599، او 23114، او 23188، او ترمذي، په شمېره 3500 روايت کړی، او د مسند محققينو په 27/ 144، او په 38/ 197، او په 38/ 145 کې: ((حسن لغيره)) بللی، او الباني په صحيح الجامع، 1/ 399 کې حسن بللی دی.

(اې الله زما ګناهونه وبخښه، زما لپاره زما کور پراخه کړه، او په هغه څه کې چې تا ماته راکړي دي برکت راکړه).

90-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُك مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ؛ فَإِنَّهُ لاَ يَمْلِكُهَا إِلاَّ أَنْتَ))[102].

(اې الله، زه ستا د فضل او رحمت غوښتنه کوم. ځکه ددې ملکيت يوازې تاسو سره دی).

91-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَرَمِ، وَالتَّرَدِّي، وَالْهَدْمِ، وَالْغَمِّ، وَالْغَرَقِ، وَالْحَرَقِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا))[103].

(اې الله زه پر تا پناه نيسم له بوډاتوب، پرېوتلو (غورځېدلو)، غم، تخريب، ډوبېدلو، او سوځېدلو څخه، او زه تاته پناه دروړم لدې نه چې د مرګ په وخت کې شيطان ما وغولوي، او زه تاته پناه دروړم چې زه ستا په لار کې د فرار په موقع کې مړ شم، او زه تا ته پناه دروړم لدې چې زه چيچيدلی مړ شم).

---

[102] طبراني روايت کړی. او هيثمي في مجمع الزوائد کې، 159/10: (( ددې حديث خلک صحيح دي پرته له محمد بن زياد څخه او هغه ثقه دی))، او الباني په صحيح الجامع کې په 404/1 شمېره 1278 کې تصحيح کړی دی.

[103] ابو داود، په 1552 شمېره ، او نسائي، په 5531 شمېره ، او 5532 شمېرې روايت کړی دی، او الباني په صحيح نسائي، 1123/3، کې او صحيح سنن ابي داود، 1/ 425 کې تصحيح کړی دی.

92-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ؛ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ؛ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ))[104].

(اې الله زه پر تا له لوږې پناه غواړم ځکه چې لوږه د خوب ځای ډېر بد ملګری دی، او زه پر تا له خیانت کولو څخه پناه نیسم ځکه یقینا خیانت ډېر بد داخلي راز دی).

93-((اللَّهُمَّ إِنِّي أعُوذُ بِكَ مِنَ العَجْزِ، والكَسَلِ، والجُبْنِ، والبُخْلِ، والهَرَمِ، والقَسْوَةِ، والغَفْلَةِ، والعَيْلَةِ، والذِّلَّةِ، والمَسْكَنَةِ، وأعُوذُ بِكَ مِنَ الفَقْرِ، والكُفْرِ، والفُسُوقِ، والشِّقاقِ، والنِّفاقِ، والسُّمْعَةِ، والرِّياءِ، وأعُوذُ بِكَ مِنَ الصَّمَمِ، والبَكَمِ، والجُنُونِ، والجُذامِ، والبَرَصِ، وَسَيِّءِ الأَسْقامِ))[105].

(اې الله زه تا ته له ناتوانۍ ، سستۍ، بزدلۍ، بخل، بوډاتوب، ظلم، غفلت، ناتوانۍ، ذلت، د مال له کمښت څخه پناه غواړم، او زه تا ته له فقر، کفر، بد اخلاقۍ، تقسیم او ټوټې کېدلو، نفاق، شهرت، ریاکارۍ څخه پناه غواړم، او زه تا ته له کوڼتوب، ګونګتوب، لېونتوب، جذام، پیس، او بدو ناروغیو څخه پناه دروړم).

[104] ابو داود، په 1547شمېره، او نسائي په 5483 شمېره کې روایت کړي، او الباني په صحیح النسائي، 1112/3 کې حسن بللی دی.

[105] نسائي، په 5493 شمېره، او حاکم په 1/ 530 کې روایت کړی دی، او الباني په صحیح الجامع کې صحیح بللی ، 406/1، او إرواء الغلیل کې يې په 852 شمیره صحیح بللی دی.

94-((اللّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ، [وَالْفَاقَةِ]، وَالْقِلَّةِ، وَالذِّلَّةِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أو أُظْلَمَ))[106].

((اې الله زه پر تا ته له فقر (فاقه)، کمښت او ذلت نه پناه غواړم، او تا ته لدې پناه دروړم چې پر چا باندې ظلم وکړم او یا ما باندې ظلم وشي )) [١٠٩].

95-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ؛ فَإِنَّ جَارَ الْبَادِيَةِ يَتَحَوَّلُ))[107].

(اې الله زه تا ته په ابدي کور کې له بد ګاونډي څخه پناه غواړم، ځکه د صحرا ګاونډی بدلیږي).

96-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ قَلْبٍ لاَ يَخْشَعُ، ومِنْ دُعَاءٍ لاَ يُسْمَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لاَ تَشْبَعُ، وَمِنْ عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ هُؤُلاَءِ الأَرْبَعِ))[108].

---

[106] ابو داود، په شمېره 1544، او نسائي، په شمېره 5475 روایت کړی دی، او الباني په صحیح النسائي، 1111/3، او صحیح الجامع، 407/1 کې صحیح بللی دی، او هغه څه چې دوو قوسونو کې دي د ابن حبان په نیز (موارد) دي، او الباني په صحیح موارد الظمآن، 2/ 455 کې صحیح بللی دی.

[107] بخاري په الأدب المفرد کې په 117 شمېره، او حاکم په 532/1 شمېره روایت کړي، او ذهبي صحیح بللی او توافق یې کړی، او نسائي، په 5517 شمېره روایت کړی، الباني په صحیح الجامع، 408/1 کې، او صحیح النسائي، 1118/3 کې صحیح بللی دی.

[108] ترمذي، په شمېره 3482، او ابو داود، په شمېره 1549 روایت کړي دي، او علامة الباني په صحیح الجامع، شمېره 1295، او صحیح النسائي، 1113/3 کې صحیح بللی دی.

(اې الله زه پرتا له داسې زړه نه چې عاجزي نکوي، له داسې دعا څخه چې نه اورېدل کيږي، او له داسې نفس څخه چې نه مړيږي، او له داسې علم څخه چې ګټور نه وي پناه غواړم، زه لدې څلورو شيانو څخه تا ته پناه راوړم).

97-((اللَّهُمَّ إِنِّي أعُوذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السُّوءِ، وَمِنْ لَيْلَةِ السُّوءِ، وَمِنْ سَاعَةِ السُّوءِ، وَمِنْ صَاحِبِ السُّوءِ، وَمِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ الْمُقامَةِ))[109].

(اې الله زه تاته له بدې ورځې -، بدې شپې، بد ساعت، بد ملګري، او بد ګاونډ څخه په ابدي كور كې - پناه دروړم).

98-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَأَسْتَجِيْرُ بِكَ مِنَ النَّارِ)) (ثَلاَثَ مَرَّاتٍ)[110].

(اې الله زه له تا څخه د جنت غوښتنه كوم او له دوزخ څخه تا ته پناه دروړم).

---

[109] طبراني روايت كړى، او هيثمي په الزوائد، 144/10 كې ويلي دي چې ((راويان يې د صحيح راويان دي)). او الباني په صحيح الجامع، 411/1، كې په 1290 شميره كې صحيح بللى دى.

[110] ترمذي، په 2572 شميره، او ابن ماجه، په 3340 شمېره، او نسائي، په 5536 شمېره كې روايت كړى دى، او الباني په صحيح الترمذي كې په 319/2 ، او صحيح النسائي، 1121/3 كې صحيح بللى دى، او د هغه لفظ داسې دى : ((من سأل الله الجنة ثلاث مرات قالت الجنة: اللهمّ أدخله الجنة ومن استجار من النار ثلاث مرات قالت النار: اللهمّ أجره من النار)). ((چا چې له الله څخه درې ځلې د جنت غوښتنه وكړه، جنت ووايي: اې الله! هغه جنت ته داخل كړه، او چا چې له اور څخه درې ځلې پناه وغوښته، اور ووايي: اې الله له اور څخه پناه وركړه)).

99-((اللَّهُمَّ فَقِّهْنِي فِي الدِّينِ))[111].

(اې الله ما ته په دین کې پوهه راکړه).

100-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ))[112].

(اې الله زه تاته پناه دروړم چې له تا سره شریک راوړم په داسې حال کې چې زه پوهېږم، او له تا څخه بخښنه غواړم له هغه څه څخه چې نه پوهېږم).

101-((اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي، وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي، وَزِدْنِي عِلْمًا))[113].

(اې الله ماته په هغه څه ګټه راورسوه چې تا ما ته را زده کړي دي، او ماته پوهه راکړه په هغه څه چې ما ته ګټه رسوي، او زما علم زيات کړه).

102-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا))[114].

---

[111] د بخاري او مسلم روایت پرې دلالت کوي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ابن عباس رضي لله عنهما ته دعا کړې ده، بخاري، په 143 شمیره، او مسلم، په 2477 شمیره روایت کړې دی.

[112] احمد، 403/4، او ابن ابي شيبة، 10/ 337، او طبراني په المعجم الأوسط، 4/ 284 کې روایت کړی او الباني په صحيح الترغيب والترهيب، 19/1 کې حسن بللی دی.

[113] ترمذي، په شمېره 3599، او ابن ماجه، په شمېره 259 روایت کړی دی، او الباني په صحيح ابن ماجه، 47/1 کې صحيح بللی دی.

[114] ابن ماجه، په 925 شمېره، او نسائي په عمل اليوم والليلة کې، په 102 شمېره، او احمد، 6/ 294، و305 روایت کړی دی، او الباني په صحيح ابن ماجه، 152/1 کې صحيح بللی دی.

(اې الله زه له تا څخه د ګټور علم، پاکيزه روزۍ، او قبول شوي عمل غوښتنه کوم).

103-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللَّهُ بِأَنَّكَ الْوَاحِدُ الْأَحَدُ، الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ))[115].

(اې الله! زه تاته سوال کوم، چې بېشکه ته يوازې (واحد) او بې نيازه يې، هغه ذات يې چې نه ترې څوک پيدا شوي او نه د چا نه پيداشوی دی، او هيڅ د ده ببلګه او سيال نه شته، نو ماته زما د ګناهونو بخښنه وکړه، بېشکه ته بخښونکی مهربان ذات يې).

104-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ [وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ] الْمَنَّانُ [يَا] بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، يَا ذَا الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ، إِنِّي أَسْأَلُكَ [الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ]))[116].

(اې الله زه له تا څخه غوښتنه کوم ځکه ستاينه خاص تا لره ده، له تا پرته بل معبود نشته [ته يوازې يې شريک نه لرې] احسان کوونکی [ اې] د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی او نوښتګر ذاته، اې د عظمت او عزت خاونده، اې

[115] نسائي په 1300 شمېره، او لفظ د هغه دی، او نسائي په الکبری کې، په 7665 شمېره، او ابو داود، په 985 شميره روايت کړی دی، او الباني په صحيح سنن النسائي، 1/ 147 کې صحيح بللی دی.

[116] ابو داود، په 1495 شمېره، او ابن ماجه، په 3858 شمېره، او نسائي، په 1299 شمېره، او ترمذي، په 3544 شمېره کې روايت کړی دی، او الباني په صحيح النسائي کې، 279/1، او په صحيح ابن ماجه، 2/ 329 کې صحيح بللی دی.

ژوندى او باقي ذاته، زه له تا څخه د جنت غوښتنه کوم او له جهنم څخه تا ته پناه دروړم).

105-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، الأَحَدُ، الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ، وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ))[117].

(اې الله! زه له تاسو څخه سوال کوم، چې بېشکه ته يوازې (واحد) او بې نيازه يې، هغه ذات يې چې نه ترې څوک پيدا شوي او نه د چا نه پيدا شوى دى، او هيڅ د ده بېلګه او سيال نه شته).

106-((رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَتُبْ عَلَيَّ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ))[118].

(اې ربه، ما ته بخښنه وکړه، او زما توبه قبوله کړه، ځکه ته ډېر بخښونکى يې).

107-((اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيماً لاَ يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لاَ تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ

---

[117] ابو داود، په 985 شمېره ، او ترمذي، په 3475 شمېره ، او ابن ماجه، په 3857 شمېره ، او أحمد 360/5 روايت کړى دى، او الباني په صحيح سنن الترمذي، 163/3 کې صحيح بللى دى.

[118] ابو داود، په شمېره 1518، او ترمذي، په شمېره 3434، او لفظ د هغه دى، او نسائي په الکبرى کې په شمېره 10292، او ابن ماجه، په شمېره 3814 کې روايت کړى دى، او الباني په صحيح ابن ماجه کې، 321/2، او په صحيح الترمذي، 153/3 کې صحيح بللى دى.

الْقَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَلاَ فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ))[119].

(اېالله، ستا د غيبو په علم او پر مخلوق ستا له ځواکمنۍ، ما ژوندی وساته تر هغه چې ته پوهېږې چې ژوند زما لپاره غوره ده، او ما وفات کړه کله چې ته پوهېږې چې مړه کېدل زما لپاره غوره دي، اې الله زه له تا څخه په غيب او حضور کې د وېرې غوښتنه کوم، او زه له تا څخه د خوشحالۍ او غضب په وخت کې د حق وينا کولو توفيق غواړم، او تا ته د شتمنۍ او فقر په وخت کې د رجوع کولو غوښتنه کوم، او له تا څخه د نعمتونو د نه ختمېدلو غوښتنه کوم، او ستا څخه د سترګو د يخوالي نه قطع کېدلو غوښتنه کوم، او ستا څخه له قضا وروسته د رضامندۍ غوښتنه کوم، او ستا څخه د مرګ نه وروسته د خوشحاله او راحت ژوند غوښتنه کوم، او ستا عزتمند مخ ته د کتلو د خوند اخيستلو او ستا سره د ملاقات غوښتنه کوم، پرته له زيان رسوونکي کړاوونو، او نه هم ګمراه کوونکي فتنې څخه، اې الله مونږ ته په ايمان سره زينت راکړه، او موږ هدايت کوونکي او له هدايت شويو څخه وګرځوه).

[119] نسائي، په شمېره 1305، او احمد، 264/4 کې روايت کړې دي، او الباني په صحيح النسائي، 280/1، او1/ 281 کې تصحيح کړی دی.

108-((اللَّهُمَّ ارزُقني حُبَّكَ، وحُبَّ مَنْ يَنْفَعُني حُبُّهُ عندَك، اللَّهُمَّ مَا رَزَقْتَني مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ، اللَّهُمَ مَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغاً لِي فِيمَا تُحِبُّ))[120].

(اې الله ما ته خپله مينه راوبخښه، او د هغه چا او څيز مينه راوبخښه چې دغه مينه ستا په نيز ما ته ګټه رسوي، اې الله هغه څه چې زه يې خوښوم او تا ما ته راکړي دي نو هغه زما لپاره په هغه څيز کې ځواک وګرځوه چې ته يې خوښوې، اې الله هغه څه چې تا له ما څخه لرې کړي دي او زه يې خوښوم، هغه زما لپاره د هغه څه پر ځای وګرځوه چې ته يې خوښوې).

109-((اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي مِنَ الذُّنُوبِ وَالْخَطَايَا، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْهَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنْ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي بِالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَالْمَاءِ الْبَارِدِ))[121].

(اې الله ما له ګناهونو او خطاګانو څخه پاک کړه، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينې جامې چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما په واورې، ګلۍ او يخو اوبو پاک کړه).

110-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَالْجُبْنِ، وَسُوءِ الْعُمُرِ، وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ))[122].

---

[120] ترمذي، په شمېره 3491 روايت کړی او حسن يې بللی. او شيخ عبد القادر الأرنؤوط ويلي دي: ((دا هغه څه دي چې هغه ويلي دي)). د هغه تحقيق په جامع الأصول، 341/4 کې و ګوره.

[121] مسلم، په شمېره 476، او نسائي، په شمېره 400 روايت کړی دی.

[122] نسائي، په شمېره 5469، او د هغه لفظ داسې دی: ((کان النبي -صلى الله عليه وسلم- يتعوذ من خمس: من البخل، والجبن، وسوء العمر، وفتنة الصدر، وعذاب القبر))،

(اې الله زه په تا پناه غواړم له بخل، بزدلۍ، بد ژوند، د سینې له فتنې او د قبر له عذاب څخه).

111-((اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَرَبَّ إِسْرَافِيلَ، أَعُوذُ بِكَ مِنَ حَرِّ النَّارِ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ))[123].

(اې د جبرائيل او ميكائيل ربه، او د اسرافيل ربه، زه تا ته د اور له ګرمۍ، او د قبر له عذابه پناه وړم).

112-((اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي، وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي))[124].

(اې الله ما ته خپل رشد او عقل راکړه، او د نفس له شر څخه ما وساته).

113-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا،وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ))[125].

---

((نبي -صلى الله عليه وسلم- به له پنځو شيانو څخه پناه غوښته: بخل، بزدلي، بد ژوند، د سينې له فتنې او د قبر له عذاب څخه)، ابو داود، په شمېره 1539 روايت کړی. او الأرنؤوط هغه په خپل تخريج کې په جامع الأصول، 363/4 کې حسن بللی دی.

[123] نسائي، په شمېره 1344، او احمد، 6/ 61، او بيهقي په الدعوات، شمېره 109 کې روايت کړي دي، او الباني په صحيح النسائي، 1121/3، او سلسلة الأحاديث الصحيحة، شمېره 1544 کې صحيح بللی دی.

[124] ترمذي روايت کړی او لفظ د هغه دی، 5/ 519، په شمېره 3483، او احمد، 23/ 197، په شمېره 19992، او حاکم، 1/ 510، همدارنګه روايت کړي دي، او د مسند محققينو د أحمد د حديث 33/ 197 سره ويلي دي: ((اسناد يې صحيح دی د شيخينو په شرط برابر دی...))، مګر د ترمذي لفظ الباني ضعيف ګڼلی دی، الترمذي، ص 379 .

[125] نسائي په الكبرى کې ، په 7867 شميره، او ابن ماجه، په 3843 شميره روايت کړی دی، او الباني په صحيح سنن ابن ماجه، 327/2 کې حسن ګڼلی دی، او د هغه لفظ دی:

(اې الله زه له تا څخه د ګټور علم سوال کوم، او له هغه علم څخه چې ګټه نه رسوي تا ته پناه وړم).

114-((اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ [السَّبْعِ] وَرَبَّ الْأَرْضِ، وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ))[126].

(اې د (اوو) آسمانونو، ځمکې او د لوی عرش ربه! زمونږ او د هر شي ربه، د دانې او زړې چوونکيه، د تورات، انجيل او فرقان نازلوونکيه، پناه دروړم تاته د هر هغه شي له شر نه چې ته يې له تندي څخه نيوونکی يې، يا الله تعالی! ته اول يې له تا څخه مخکې څه نشته، او ته آخر يې له تا څخه وروسته څه نشته، او ته اوچت يې نو له تا څخه پورته څوک نشته، او ته (د ذات په لحاظ) پټ يې له تا څخه بل څوک پټ نشته؛ زمونږ څخه پور پرې کړه، او مونږ د غريبی څخه مالداره کړه).

115-((اللَّهُمَّ أَلِّفْ بَيْنَ قُلُوبِنَا، وَأَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا، وَاهْدِنَا سُبُلَ السَّلَامِ، وَنَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ، وَجَنِّبْنَا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَبَارِكْ لَنَا فِي أَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُلُوبِنَا، وَأَزْوَاجِنَا، وَذُرِّيَّاتِنَا، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ

---

((سلوا الله علماً نافعاً، وتعوذوا بالله من علم لا ينفع)). (( له الله څخه د ګټور علم غوښتنه وکړئ، او له هغه ډول علم څخه چې ګټه نه رسوي په الله پناه وغواړئ)).

[126] مسلم، په 2713 شميرې سره، له ابو هريرة -رضي الله عنه- څخه روايت کړی دی.

التَّوَّابُ الرَّحِيمُ، وَاجْعَلْنَا شَاكِرِينَ لِنِعَمِكَ مُثْنِينَ بِهَا عَلَيْكَ، قَابِلِينَ لَهَا، وَأَتِمِمْهَا عَلَيْنَا))[127].

(اې الله زموږ زړونه پخلا کړه، زموږ تر منځ سوله وکړه، موږ ته د سولې لار هواره کړه، او موږ له تیارو څخه رڼا خوا ته وژغوره، او موږ له ظاهري او باطني بدوکارونو څخه وژغوره، زموږ په غوږونو، زموږ په سترګو، زموږ په زړونو او زموږ په خاوندانو او میرمنو، او زموږ په اولادونو کې برکت واچوه، او زموږ توبه قبوله کړه ځکه ته د توبې قبلوونکی او مهربان یې، او مونږ ستا پر نعمت له شکر کوونکو څخه وګرځوه چې هغه باندې ستا ستاینه وکړو، او موږ د هغه جوګه وګرځوه، او پر مونږ یې بشپړ کړه).

116-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَسْأَلَةِ،وَخَيْرَ الدُّعَاءِ، وَخَيْرَ النَّجَاحِ، وَخَيْرَ الْعَمَلِ،وَخَيْرَ الثَّوَابِ،وَخَيْرَ الْحَيَاةِ، وَخَيْرَ الْمَمَاتِ، وَثَبِّتْنِي،وَثَقِّل مَوَازِينِي،وَحَقِّقْ إِيمَانِي، وَارْفَعْ دَرَجَاتِي، وَتَقَبَّلْ صَلاَتِي، وَاغْفِرْ خَطِيئَتِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلاَ مِنَ الْجَنَّةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فَوَاتِحَ الْخَيْرِ، وَخَوَاتِمَهُ، وَجَوَامِعَهُ، وَأَوَّلَهُ، وَظَاهِرَهُ، وَبَاطِنَهُ، (اې الله زه له تا څخه د غوره مسئلې، غوره دعا، غوره بریالیتوب، غوره عمل، غوره اجر، غوره ژوند او غوره مرګ غوښتنه کوم، او ما ثابت ولره، زما تله درنه کړه، او زما ایمان محقق وګرځوه، او زما مرتبې اوچتې کړه، او زما لمونځ (دعا) قبول کړه، او زما ګناهونه معاف کړه، او ستا څخه د جنت د لوړو درجو غوښتنه کوم، اې الله زه له تا څخه د پیل خیر ، او د پای خیر، او د ټول خیر، د خیر د پیل، د ظاهري او باطني خیر غوښتنه کوم).

---

[127] ابو داود، په 969 شمیره، او حاکم په 1/ 265 روایت کړی او لفظ د همده دی ، او ویلي یې دي: ((صحیح دی د مسلم په شرط برابر دی ))، او ذهبي ورسره موافقه کړې، 26/1، او الباني په صحیح الأدب المفرد، شمېره 630 کې صحیح بللی دی.

وَالدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا آتِي، وَخَيْرَ مَا أَفْعَلُ، وَخَيْرَ مَا أَعْمَلُ، وَخَيْرَ مَا بَطَنَ، وَخَيْرَ مَا ظَهَرَ، وَالدَّرَجَاتِ العُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تَرْفَعَ ذِكْرِي، وَتَضَعَ وِزْرِي، وَتُصْلِحَ أَمْرِي، وَتُطَهِّرَ قَلْبِي، وَتُحَصِّنَ فَرْجِي، وَتُنَوِّرَ قَلْبِي، وَتَغْفِرَ لِي ذَنْبِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَا مِنَ الْجَنَّةِ آمِينْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تُبَارِكَ فِي نَفْسِي، وَفِي سَمْعِي، وَفِي بَصَرِي، وَفِي رُوحِي، وَفِي خَلْقِي، وَفِي خُلُقِي، وَفِي أَهْلِي، وَفِي مَحْيَايَ، وَفِي مَمَاتِي، وَفِي عَمَلِي، فَتَقَبَّلْ حَسَنَاتِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ العُلَا مِنَ الْجَنَّةِ، آمِينْ))[128]. او د جنت لوړې درجې مې نصيب کړه، آمين، اې الله، زه له تا څخه د هغه څه چې پېښېږي خير غواړم، او د هغه څه خير چې زه يې کوم، او د هغه څه خير چې زه يې ترسره کوم، او د هغه څه خير چې پټ دي، او د هغه څه خير چې ښکاره دي، او د جنت لوړې درجې، آمين، اې الله زه له تا څخه غواړم چې زما ياد لوړ کړې، زما تېروتنې ليرې کړې، زما چارې سمې کړې، او زما زړه پاک کړې، زما د عفت ساتنه وکړې، زما زړه روښانه کړې، او زما ګناهونه معاف کړې، او زه له تا څخه د جنت د لوړې درجې غوښتنه کوم، آمين، اې الله زه له تا څخه غواړم چې زما په نفس، او زما په غوږ، زما په سترګه، زما په روح، زما په خلقت، زما په اخلاقو، زما په کورنۍ، زما په ژوند، زما په مرګ او زما په کار کې برکت واچوه، او زما نيک عملونه قبول کړه، او زه له تا څخه د جنت لوړې درجې غواړم، آمين).

---

[128] حاکم له ام سلمة څخه په مرفوع ډول روايت کړی ، 1/ 520 ، ذهبي تصحيح او موافقه يې ورسره کړې، 520/1، او بيهقي په الدعوات، شمېره 225، او طبراني په الکبير، 23/ 326، شمېره 717 کې.

117-((اللَّهُمَّ جَنِّبْنِي مُنْكَرَاتِ ٱلْأَخْلَاقِ، وَالْأَهْوَاءِ، وَالْأَعْمَالِ، وَالْأَدْوَاءِ))[129].

(اې الله ما د بدو اخلاقو، خواهشاتو، کړنو او ناروغيو څخه وساته).

118-((اللَّهُمَّ قَنِّعْنِي بِمَا رَزَقْتَنِي، وَبَارِكْ لي فِيهِ، وَاخْلُفْ عَلَيَّ كُلَّ غَائِبَةٍ لِي بِخَيْرٍ))[130].

(اې الله ما په هغه رزق راضي کړه چې تا ماته راکړی، او په هغه کې برکت واچوه، او هغه څه چې ما له لاسه ورکړي ښه عوض او بدل راکړه).

119-((اللَّهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَاباً يَسِيرَاً))[131].

---

[129] حاکم، 1/ 523 روايت کړی، او ويلي يې دي: ((د مسلم په شرط صحيح دی))، او ذهبي ورسره موافقه کړې، 532/1، او طبراني په المعجم الکبير کې، 19/ 19 شمېرې سره په 36 شميره روايت کړی، او الباني په ظلال الجنة، شمېره 13 کې صحيح بللی.

[130] حاکم، 1/ 532 روايت کړی، او ذهبي صحيح بللی او توافق يې ورسره کړی، 510/1، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه، او بيهقي په الآداب، شمېره 1084، او په الدعوات الکبير، 211، او حافظ ابن حجر په الفتوحات الربانية، 4/ 383 کې حسن بللی.

[131] احمد، 48/6 او الحاکم 255/1 روايت کړي او ويلي يې دي: ((صحيح دی د مسلم په شرط )) او الذهبي 255/1 له هغه سره موافق دی، قالت عائشة رضي الله عنها: فلما انصرف قلت: يا نبي الله ما الحساب اليسير؟ قال: ((أن ينظر في کتابه فيتجاوز عنه إنه من نوقش الحساب يومئذ يا عائشة هلك، وکل ما يصيب المؤمن يکفر الله -عز وجل- به عنه حتی الشوکة تشوکه)). عائشې رضي الله عنها وفرمايل: کله چې هغه ولاړ ما وويل: اې د الله رسوله، اسانه حساب څه دی؟ هغه وفرمايل: (( چې د هغه عمل نامې ته وکتل شي او له هغه څخه سترګې پټې کړي، ځکه له چا سره چې پدې ورځ حساب وشو اې عايشې، هغه به هلاک شي، او هر هغه څه چې مؤمن ته رسيږي، الله تعالی به يې د هغه لپاره کفاره

(اې الله زما سره اسانه حساب وکړه).

120-((اللَّهُمَّ أعِنَّا عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ))[132].

(يا الله! له زمونږ سره ستا د ذکر او شکر ادا کولو او ښايسته بندګۍ کولو کې مرسته وکړه).

121-((اللَّهُمّ إِنِّي أَسْأَلُكَ إِيمَانًا لاَ يَرْتَدُّ، وَنَعِيمًا لاَ يَنْفَدُ، وَمُرَافَقَةَ مُحَمَّدٍ -صلى الله عليه وسلم- فِي أَعْلَى جَنَّةِ الْخُلْدِ))[133].

(اې الله زه له تا څخه د هغه ايمان غوښتنه کوم چې شاته نه راګرځي، او هغه نعمتونه چې نه ختميږي، او په ابدي او لوړ جنت کې د محمد صلى الله عليه وسلم ملګرتيا).

---

وګرځوي حتا که يو اغزى هم وي)). او علامه الباني په مشكاة المصابيح کې د دې په باره کې ويلي دي: ((اسناد يې جيد دى)).

[132] احمد 2/ 299 او الحاكم 1/499 روايت کړى، او امام ذهبي له ده سره موافق دى، او دا هغه څه دي چې هغو دواړو ويلي، او دا د ابو داود په شمېره 1524، او النسائي په الكبرى کې په 9973 شمېرې صحيح ګڼلى، او الباني په صحيح الادب المفرد کې په 534 شميره صحيح بللى.

[133] ابن حبان روايت کړى (موارد)، 604 مخ، 2436 شمېره، له ابن مسعود -رضي الله عنه- څخه په موقوف ډول، او احمد له بلې لارې روايت کړى، 1/386، 400، او نسائي په عمل اليوم والليلة، شمېره 869 کې روايت کړى، او الباني په السلسلة الصحيحة، شميره2301 کې صحيح بللى.

122-((اللَّهُمَّ قِنِي شَرَّ نَفْسِي، وَاعْزِمْ لِي عَلَى أَرْشَدِ أَمْرِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَخْطَأْتُ، وَمَا عَمَدْتُ، وَمَا عَلِمْتُ، وَمَا جَهِلْتُ))[134].

(اي الله ما د خپل روح له شر څخه وساته، او زما لپاره په معقول او غوره کار کې عزیمت راکړه، اي الله ما ته بخښنه وکړه هغه څه چې ما په پټه ترسره کړي، او څه چې ما په ښکاره سره کړي، او څه چې ما په خطا سره کړي، او هغه څه چې ما قصدا کړي دي، او هغه څه چې ما پوهې سره کړي، او څه چې ما په ناپوهۍسره کړي دي).

123-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ))[135].

(اي الله زه تا ته د قرض له باره، د دښمن له غلبې، او پر ما باندې د دښمن له خوشالېدو څخه پناه دروړم).

---

[134] نسائي په الکبری ج 6/ 246 شمېره 10830او الحاکم 510/1 کې روایت کړی دی، او الذهبي صحیح بللی او له هغه سره يې موافقه کړې ده، او احمد، 444/4 روایت کړی، او المسند المحقق، 197/33، په شمېره 19992، او حافظ په الاصابه کې ویلي دي: ((اسناد يې صحیح دی)) او الباني په تخريج رياض الصالحين کې په خپل تفسير 1495 شمېره کې صحیح بللی دی.

[135] نسائي، په 5475 شمېره، او احمد په 2/ 173 روایت کړی دی، او الباني په صحیح نسائي، 1113/3 کې صحیح بللی دی.

124-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي، وَعَافِنِي، أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ ضِيقِ الْمَقَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ))[136].

(اې الله ما ته بخښنه وکړه، ما ته هدايت وکړه، ماته رزق راکړه، ما ته صحت راکړه، زه د قيامت په ورځ د ولاړيدو له سختۍ څخه په الله تعالی پناه غواړم).

125-((اللَّهُمَّ مَتِّعْنِي بِسَمْعِي، وَبَصَرِي، وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ يَظْلِمُنِي، وَخُذْ مِنْهُ بِثَأْرِي))[137].

(اې الله زما غوږ او سترګه باندې ما ته ګټه راکړه، او دغه دواړه حواس زما لپاره ذخيره وګرځوه، او ماته په هغه چا بريا راکړه چې پر ما ظلم کوي، او له هغه څخه زما انتقام واخله).

126-((اللَّهُمَّ إنِّي أسْألُكَ عِيشَةً نَقِيَّةً، ومِيتَةً سَوِيَّةً، ومَرَدّاً غَيْرَ مَخْزٍ ولا فاضِحٍ))[141].

(اې الله زه له تا څخه سوال کوم چې - پاک ژوند، برابر مرګ - چې نه ډير زوړ شم او نه ډيره سختي ووينم - او آخرت ته داسې ورګرځيدل چې سپکاوی او رسوايي پکې نه وي - را نصيب کړه).

---

136 نسائي، په شمېره 1617، او ابن ماجه، په شمېره 1356 روايت کړي دي، او الباني په صحيح سنن النسائي، 356/1، او په صحيح ابن ماجه، 226/1 کې صحيح بللی دی.

137 ترمذي، په 3681 شمېره ، او بخاري په الأدب المفرد کې په 650 شميره، اوحاکم، 1/ 523 روايت کړی دی، او ذهبي صحيح بللی او ورسره موافق دی، او الباني په صحيح الترمذي کې 188/3 حسن بللی دی.

127-((اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهُ، اللَّهُمَّ لاَ قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ، وَلاَ بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ، وَلاَ هَادِيَ لِمَنْ أَضْلَلْتَ، وَلاَ مُضِلَّ لِمَنْ هَدَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ، وَلاَ مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ، اللَّهُمَّ ابْسُطْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ، وَرَحْمَتِكَ، وَفَضْلِكَ، وَرِزْقِكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ الْمُقِيمَ الَّذِي لاَ يَحُولُ وَلاَ يَزُولُ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ يَوْمَ الْعَيْلَةِ، وَالأَمْنَ يَوْمَ الْخَوْفِ، اللَّهُمَّ إِنِّي عَائِذٌ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أَعْطَيْتَنَا وَشَرِّ مَا مَنَعْتَنَا، اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الإِيمَانَ وَزَيِّنْهُ فِي قُلُوبِنَا، وَكَرِّهْ إِلَيْنَا الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ، وَاجْعَلْنَا مِنَ الرَّاشِدِينَ، اللَّهُمَّ تَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ، وَأَحْيِنَا مُسْلِمِينَ، وَأَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِينَ غَيْرَ خَزَايَا وَلاَ مَفْتُونِينَ، اللَّهُمَّ قَاتِلِ الْكَفَرَةَ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ رُسُلَكَ، وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِكَ، وَاجْعَلْ عَلَيْهِمْ رِجْزَكَ وَعَذَابَكَ، اللَّهُمَّ قَاتِلْ كَفَرَةَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ، إِلَهَ الْحَقِّ [آمِينْ]))[138].

(اې الله ټوله ستاینه تا لره ده، نشته تنګوونکی د هغه څه چې تا پراخه کړې وي، او پراخوونکی د هغه څه چې تا تنګ کړې وي، او نشته هدایت موندونکی د هغه چا لپاره چې تا ګمراه کړې وي، او نشته ګمراه کوونکی د هغه چا لپاره چې تا ورته هدایت کړې وي، او نشته ورکوونکی د هغه څه چې تا منع کړې وي، او نشته منع کوونکی د هغه څه چې تا ورکړې وي، او نشته نږدې کوونکی د هغه څه چې تا لرې کړې وي، او لرې کوونکی د هغه څه چې تا نږدې کړې وي، اې الله له خپلو برکتونو، رحمتونو، احساناتو، او رزق مونږ باندې پراخه

---

[138] احمد د هغه په لفظ سره 3/ 424، و24/ 246، په شمېره 15492، او د دوو قوسونو په منځ کې د حاکم، 1/ 507، 3/ 23- 24 دي، او بخاري په الأدب المفرد، شمېره 699 کې روایت کړی، او الباني په تخریج فقه السیرة، مخ 284 کې صحیح بللی، او په صحیح الأدب المفرد د بخاري، شمېره 538، مخ 259، او د مسند محقیقنو ، 24/ 246 ویلي چې ((روایان یې ثقه دي)).

کړه، اې الله زه له تا څخه د ابدي نعمتونو غوښتنه کوم، هغه چې نه بدلېږي او نه ختمېږي، اې الله زه له تا څخه د فقر پر مهال نعمتونه او د وېرې په ورځ امن غواړم، اې الله زه تا ته پناه دروړم د هغه څه له شر څخه چې تا مونږ ته راکړي او د هغه څه له شر څخه چې تا زمونږ څخه منع کړي دي، اې الله ایمان زمونږ په زړونو کې محبوب او ښکلی وګرځوه، او زمونږ لپاره کفر، بدکاري او نا فرماني نا خوښ وګرځوه، او مونږ له عقل لروونکو څخه وګرځوه، اې الله مونږ مسلمانان مړ کړه، او مسلمانان مو را ژوندي کړه، او صالحینو سره مو یوځای کړه، او موږ له نیکو خلکو سره یو ځای کړه، نه ذلیل شوي او نه ازمویل شوي، اې الله هغه کافران هلاک کړه چې ستا د رسولانو څخه انکار کوي، او ستا د لارې مانع ګرځي، او په هغوی باندی خپل غضب او عذاب نازل کړه، اې الله هغه کافران هلاک کړه چې د هغوی لپاره کتاب ورکړ شوی، اې د حق معبوده، آمین).

128-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي))[139].

(اې الله ما ته بښنه وکړه، په ما رحم وکړه، ما ته هدایت وکړه، ما ته عافیت راکړه، او ماته روزي راکړه).

[139] مسلم، په شمېره 2696، او شمېره 2697، او د مسلم په روایت: ((فإن هؤلاء تجمع لك دنياك وآخرتك))، (( پرته له شک څخه دا ستا لپاره دنیا او آخرت راغونډوي»، او په سنن ابوداود، شمېره 850 کې راغلي: ((فلما ولَّى الأعرابي قال النبي -صلى الله عليه وسلم- : ((لقد ملأ يديه من الخير)). «کله چې اعرابي لاړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دواړه لاسونه یې له نیکۍ ډک شول)).

((...وَاجْبُرْنِي، وَارْفَعْنِي))[140].

(ما ته عوض راکړه، او ما پورته کړه).

129-((اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا، وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا، وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا، وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا، وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا))[141].

(اې الله مونږ لره زیات کړه او مونږ مه کموه، زمونږ اکرام وکړه او مه مو ذلیلوه، مونږ لره را کړه او مونږ مه محروموه، مونږ غوره کړه او پر مونږ بل څوک مه غوره کوه، مونږ راضي کړه او زمونږ څخه راضي شه).

130-((اللَّهُمَّ أَحْسَنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي))[142].

(اې الله زه دې ښایسته پیدا کړی یم زما اخلاق هم ښایسته کړه).

---

[140] وګوره: ترمذي، په شمېره 284، او ابن ماجه، په شمېره 898، او الباني په صحيح ابن ماجه، 1/ 148، او صحيح الترمذي، 1/ 90 کې صحيح بللی دی.

[141] ترمذي، 5/ 326، په شمېره 3173، او حاکم، 2/ 98 ، شيخ عبد القادر الأرنؤوط په الجامع الأصول باندې په خپل تحقيق کې په 11/ 282، شمېره 8847 کې صحيح او حسن بللی دی.

[142] احمد، 68/6، و155، او 403/1، او ابن حبان (2423 – موارد)،او طيالسي،374، او مسند أبي يعلی، په شمېره 5075 روايت کړی دی، او الباني په إرواء الغليل، 115/1، شمېره 74 کې صحيح بللی.

131-((اللَّهُمَّ ثَبِّتْنِي وَاجْعَلْنِي هَادِياً مَهْدِيّاً))[143].

(اې الله ما ثابت ولره او ما هدايت كوونكى او هدايت شوى وګرځوه).

132-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبَاً سَلِيمَاً، وَلِسَانَاً صَادِقَاً، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ))[144].

(اې الله زه له تا څخه په کار کې د استقامت، او د نيکۍ لپاره د عزم غوښتنه کوم. او زه له تا څخه ستا د رحمت  او بخښنې لاملونه غواړم، او غواړم چې ستا د نعمتونو شکر ادا کړم، او ستا ښه عبادت وکړم، او د سالم زړه او رېښتيني ژبې غوښتنه کوم، او د هغه څه د ښېګڼې غوښتنه کوم چې ته پرې پوهېږې،

---

[143] دې باندې د نبي -صلى الله عليه وسلم- دعا جرير -رضي الله عنه- لپاره دلالت کوي. وګوره: بخاري، په شمېره 6333، او همدارنګه په 3020، 3036 شمېرو ، او داسې نور..

[144] احمد، 28/ 338، په شمېره 17114، او 28/ 356، په شمېره 17133، او ترمذي، په شمېره 3407، او طبراني په المعجم الكبير د خپل لفظ، په شمېره 7135، او شمېره 7157، او 7175، او شمېره 7176، او7177، او7178، او7179، او 7180، او ابن حبان په خپل صحيح کې روايت کړى، 3/ 215، په شمېره 935، او5/ 310، په شمېره 1974، او شعيب الأرنؤوط په صحيح ابن حبان کې حسن بللى، 5/ 312، او د مسند محققينو هم د هغه په طريقه حسن بللى ، 28/ 338، او الباني په سلسلة الأحاديث الصحيحة په اووم مجلد 3228 شمېره کې ذکر کړى، او په صحيح موارد الظمآن کې په  2416، 2418 شمېره، او ويلي دي: ((صحيح لغيره دى)).

او د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې ته پرې پوهېږې، او په هغه څه چې ته پرې پوهېږې بخښنه غواړم، ځکه چې ته په غیبو ښه عالم يې).

133-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْفِرْدَوْسَ أَعْلَى الْجَنَّة))[145].

(اې الله زه له تا څخه د لوړ فردوس جنت غوښتنه کوم).

134-((اللَّهُمَّ جَدِّدِ الإِيْمَانَ فِي قَلْبِي))[146].

(یا الله زما په زړه کې ایمان تازه کړه).

---

[145] ۱۴۹] دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له قوله اخیستل شوی دی: ((... فَإِذا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ؛ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ، وَأَعْلَى الْجَنَّةِ، وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهُ تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ)).. ((... نو که تاسو له الله څخه غواړئ، نو له هغه څخه د فردوس غوښتنه وکړئ، ځکه چې دا د جنت منځ کې دی، د جنت تر ټولو لوړ دی، او د هغه د پاسه د رحمن عرش دی، او له هغه څخه د جنت نهرونه بهیږي)). بخاري په 2790 شمېره ، او 7423 شمېره .

[146] د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د حدیث څخه اخیستل شوی، هغه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((إنّ الإيمانَ لَيَخْلَقُ في جوف أحدِكُمْ كما يَخْلَقُ الثَّوْبُ الخَلقُ، فاسْألُوا اللّهَ أن يُجَدِّدَ الإِيمانَ في قُلُوبِكُمْ ))، (( بېشک چې ایمان ستاسو په زړه کې داسې زړېږي لکه څرنګه چې جامې د خلکو په بدن کې زړېږي، نو له الله څخه وغواړئ چې ستاسو په زړونو کې ایمان تازه کړي)). حاکم 1/ 4، تصحیح او توافق يې الذهبي کړی، او الهیثمي په مجمع الزوائد1/ 52: کې ویلي دي: (( طبراني په الکبیر کې روایت کړی، او اسناد يې حسن دی)، او الباني په سلسلة الأحاديث الصحيحة، 4/ 113 شمېره، 1585 کې حسن بللی دی.

135-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَا تَنْفَعُ))[147].

(اې الله زه ستا څخه د هغه لمانځه څخه پناه غواړم چې ګټه نه لري).

136-((اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوءِ، وَمِنْ زَوْجٍ تُشَيِّبُنِي قَبْلَ المَشِيبِ، وَمِنْ وَلَدٍ يَكُونُ عَلَيَّ رَبّاً، وَمِنْ مَالٍ يَكُونُ عَلَيَّ عَذَاباً، وَمِنْ خَلِيْلٍ مَاكِرٍ عَيْنُهُ تَرَانِي، وَقَلْبُهُ يَرْعَانِي؛ إِنْ رَأَى حَسَنَةً دَفَنَهَا، وَإِذَا رَأَى سَيِّئَةً أَذَاعَهَا))[148].

(اې الله زه په تا له بد ګاونډي څخه پناه غواړم، او له هغه مېرمن/ خاوند څخه چې ما د بوډاتوب څخه مخکې بوډا کوي، او د هغه زوی څخه چې زما بادار جوړ شي، او د هغه مال څخه چې زما لپاره عذاب وي، او دسیسه ګر ملګري څخه چې سترګې يې یوازې ماته پاتې وي، او د هغه زړه ما څاري، کله چې ښه شی ووینې نو هغه خښوي، او کله چې بد ووینې هغه نشروي).

137-((اللَّهُمَّ لاَ تُخْزِنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ))[149].

---

[147] ابو داود، په شمېره 1549، او الباني په صحيح سنن أبي داود، 1/ 424 کې صحيح بللی دی.

[148] طبراني په الدعاء، 3/ 1425، په شمېره 1339، او الباني په سلسلة الأحاديث الصحيحة کې 7/ 377، په شمېره 3137، کې ویلي دي: ((ما وویل: ددې اسناد جيد دی، او رجال يې ټول د تهذيب رجال دي ... )).

[149] احمد په المسند، 29/ 596، په شمېره 18056، او د مسند محققينو ويلي: ((إسناد يې صحيح دی))، او طبراني په المعجم الكبير کې، 3/ 20، په 2524 شمېره پدې لفظ سره:((اللهم لا تخزني يوم القيامة، ولا تخزني يوم البأس)). ((اې الله دقیامت په ورځ ما مه رسوا کوه، او د بأس په ورځ ما مه رسوا کوه )) روایت کړی دی.

(اې الله دقيامت په ورځ ما مه رسوا کوه).

138-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ))[150].

(اې الله زه له تا څخه په دنيا او آخرت کې د عافيت غوښتنه کوم).

139-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لاَ يَنْفَعُ، وَعَمَلٍ لاَ يُرْفَعُ، وَقَلْبٍ لاَ يَخْشَعُ، وَقَوْلٍ لاَ يُسْمَعُ))[151].

(اې الله زه تاته پناه راوړم له داسې علم څخه چې ګټه نه رسوي، او له داسې عمل څخه چې نه پورته کيږي، او له داسې زړه څخه چې خشوع نلري، او داسې خبره چې نه اورېدل کيږي).

140-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ))[152].

(اې الله! زه له پرېشانۍ، غم، کمزورۍ او لټۍ، بخل او بزدلۍ، او د پور له شدت، او د خلکو د قهر او تسلط څخه تا ته پناه وړم).

---

[150] ابن ماجه، په شمېره 3851، او الباني په صحيح ابن ماجه، 3/ 259، او په سلسلة الأحاديث الصحيحة کې، په شمېره 1138 روايت کړې دی.

[151] ابن حبان، په 2440 شمېره په (موارد) کې روايت کړې، او الباني په صحيح موارد الظمآن، 2/ 454، شمېره 2066 کې صحيح بللی دی.

[152] بخاري په 6363 شميرې سره روايت کړې او انس ويلي: (( ما به د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت کاوه، کله به چې شکته کېده، ما به ډېر ځله دا اورېدل چې هغه به فرمايل: ((اللّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ... )). (( اې الله! زه تاته پناه دروړم...)))

141-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجالِ))[153].

(اي الله زه پر تا د دوزخ له اور څخه پناه غواړم او زه پر تا د قبر له عذاب څخه پناه غواړم، او زه پرتا له فتنې څخه پناه غواړم، که هغه ښکاره وي او که پټه او زه پر تا د دجال له فتنې څخه پناه غواړم).

142-((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ))[154].

((اي الله زه له تا څخه ستا په لار کې د شهادت سوال کوم)).

143-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَدْخِلْنِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُدْخَلاً كَرِيمًا))[155].

---

[153] مسلم، په 2867 شمېره روایت کړی، او پدې کې راغلي: ((تَعَوَّذُوا بِاَللَّهِ مِنْ عَذَاب النَّار))...، [تَعَوَّذُوا بِاَللَّهِ مِنْ عَذَاب الْقَبْر...] ((د دوزخ له عذابه په الله جل جلاله پناه وغواړئ))... [د قبر له عذابه په الله پناه وغواړئ...] تر آخره پورې.

[154] مسلم، په 1909شمېره، د هغه - صلى الله عليه وسلم - له قوله نقل کړی: ((مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ)). ((څوک چې له الله تعالی څخه په اخلاص سره د شهادت غوښتنه وکړي، نو الله به هغه د شهیدانو درجو ته ورسوي، که څه هم هغه په خپل بستر کې مړ شي)).،

[155] بخاري، په 4323 شمېره ، او مسلم، په 2498 شمېره روایت کړی، او دا د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- له دعا څخه اخیستل شوې چې عبید ابو عامر ته یې کړې وه ، او د هغه -صلى الله عليه وسلم- دعا ابو بردة رضى الله عنهما څخه اخيستل شوې ده.

((اي الله ما ته بخښنه وکړه، اې الله د قيامت په ورځ ماته د خپل ډيرى مخلوق څخه لوړ مقام راکړه، اې الله زما ګناهونه معاف کړه، او د قيامت په ورځ ما  د عزت ځاى ته داخل کړه)).

144-((اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّمَا قْضَيْتَ، إِنَّهُ لا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ))[156].

(اې الله ما ته هدايت وکړه د هغه خلکو تر منځه چې تا ورته هدايت کړى وي، او ما ته د هغه خلکو تر منځه عافيت راکړه چې تا هغوى ته عافيت ورکړى وي، او د هغه خلکو تر منځه زما پالنه وکړه  چې تا د هغوى پالنه کړې وي، او ماته په هغه څه کې برکت راکړه چې تا راکړي دي، او ما د هغه شر څخه وژغوره چې تا فيصله کړى دى، هغه کس نه سپک کيږي چې تا د هغه پالنه کړې وي، ته د برکت او لوړ مقام والا يې).

145-((رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ))[157].

---

[156] احمد په المسند، 3/ 249، شمېره 1723 کې، د مسند 3/ 249 محققينو ويلي دي: ((اسناد يې صحيح دى)) او دا يو مطلق روايت دى چې په وترو پورې محدود ندى لکه څنګه چې په بل روايت کې راغلي دي، پدې روايت کې انس رضي الله عنه وايي:  ((او موږ ته يې دا دعا را زده کوله...)).

[157] مسلم، په  214 شمېره، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته وويل شو: اې د الله رسوله، ابن جدعان د جاهليت په زمانه کې خپلوي پالله او مسکينانو ته به يې خواړه ورکول، نو آيا دا د هغه لپاره ګټه رسوي؟ ويې فرمايل: ((لَا يَنْفَعُهُ، إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ)).  ((دا ګټه نه لري، ځکه چې هغه هيڅکله هم نه و ويلي، چې اې الله د قيامت په ورځ زما تېروتني وبخښه)).

(اي الله د قيامت (دين) په ورځ زما تېروتنې و بخښه).

146-((أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إلاَّ هُوَ، الحَيُّ القَيُّومُ، وَأَتُوبُ إِلَيهِ))[158].

(زه له هغه لوی الله څخه بخښنه غواړم چې له هغه پرته بل معبود نشته، تل ژوندی، ابدي دی، او زه هغه ته توبه کوم).

147-((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِي، وَأَعِذْنِي مِنْ مُضِلاتِ الْفِتَنِ))[159].

---

[158] ترمذي په 3577 شمېره او الباني په صحيح الترمذي 3/ 469 کې صحيح بللی دی: ((مَنْ قَالَهُ غَفَرَ اللهُ لَهُ وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنْ الزَّحْفِ)). ((څوک چې دا ووايي الله به هغه ته بخښنه وکړي که څه هم د جنګ له میدان څخه تښتېدلی وي)).

[159] د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دعا څخه اخيستل شوی چې عائشې رضی الله عنها ته يې کړې وه: ((اللهمَّ اغفرْ لهَا ذنبَهَا ، وأذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِهَا، وَأَعِذْهَا مِنْ مُضِلاّتِ الفِتَنْ))، ((اي الله د هغې ګناه وبخښه، د هغې د زړه غوسه لرې کړه، او د فتنو له ګمراهی څخه يې وساته))، ابن عساکر په خپل سند سره په ((الأربعين في مناقب أمهات المؤمنين)) 85 مخ کې له عائشې رضی الله عنها څخه روايت کړی دی، او ويلي يې دي : (( دا حديث د بقية ابن الوليد له حديث څخه صحيح او حسن حديث دی )) او ابن السني په (عمل اليوم والليلة) کې شامل کړی په457 شمېره راوړی دی او د ابن السني په يوه بله نسخه کې فرمايلي : (( (وأجرني من الشيطان))، ((او ما له شيطان څخه وساته )) د (( فتنو له ګمراهيو څخه)) پر ځای، او دا روايت د الباني په الضعيفة کې وګورئ، په شمېره 4207، او د هغه لپاره ګواه شته د ام سلمه رضي الله عنها په سند باندې د احمد سره په 44/ 2 او 26576 شمېره، او د هغه لفظ: ((قُولِي اللَّهُمَّ رَبَّ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِي، وَأَجِرْنِي مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ مَا أَحْيَيْتَنَا))، (( ووايه اي الله! د محمد صلی الله علیه وسلم پروردګاره زما ګناهونه وبخښه، زما د زړه غوسه لرې کړه او تر څو چې ژوندی يم د

(اې الله زما ګناه وبخښه، زما د زړه غصه (قهر) لرې کړه، او د فتنو له ګمراهۍ څخه مې وساته).

148-((اللَّهُمَّ أَحْيِنِي عَلَى سُنَّةِ نَبِيِّكَ -صلى الله عليه وسلم- وَتَوَفَّنِي عَلَى مِلَّتِهِ، وَأَعِذْنِي مِنْ مُضِلاَّتِ الْفِتَنِ))[160].

(اې الله ماته د خپل پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- د سنتو مطابق ژوند را وبخښه، او د هغه په ملت مې مړ کړه، او د ګمراهيو له فتنو څخه مې وساته).

---

فتنو له ګمراهيو څخه مې وساته)، الهيثمي په مجمع الزوائد 10/ 27 کې حسن بللی دی، او دا د طبراني سره په المعجم الکبير، 338/23، 785 کې پرته له دې لفظ څخه راغلی دی: ((ما أحييتنا))، ((تر څو چې مونږ ژوندي يو))، او هغه د ام هاني رضي الله عنها څخه شاهد هم لري، چې ويلي دي: اې د الله رسوله ماته يوه دعا را زده کړه، هغه وفرمايل: ((قُولِي: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي ...))، ((ووايه: اې الله زما ګناهونه وبخښه...)) دا حديث الخرائطي په « اعتلال القلوب»، 52 شمېره او «مساوئ الأخلاق»، 323 شمېره کې شامل کړې دی.

[160] بيهقي په الکبرى 5/ 95 کې د ابن عمر رضي الله عنهما له دعا څخه په موقوف شکل روايت کړی، دا ابن الملقن په البدر المنير 6/ 309 کې نقل کړې دی. او هغه د الضياء څخه نقل کړی دی او وايي: ((اسناد يې ښه دي)). ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: (( په تاسو کې دې هيڅوک نه وايي چې : اې الله زه پر تا له فتني څخه پناه غواړم، ځکه چې هيڅوک داسې نشته چې هغه له فتني څخه بچ وي، ځکه الله تعالى فرمايي: [إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ]، [بېشکه چې ستاسو مال او اولاد فتنه دي] [التغابن: 15]، نو په تاسو کې چې څوک پناه غواړي، هغه دې د فتني له ګمراهۍ څخه په الله تعالى پناه وغواړي)) ابن جرير په خپل تفسير13/ 475 شمېره 15912 کې روايت کړی، او ابن بطال په صحيح البخاري کې په 4/ 13 په خپل شرحه کې ذکر کړې دی.

149-((اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، [فِي الْعَالَمِينَ] إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ))[161].

(اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر کورنۍ باندې درود ولېږه، لکه څنګه چې دې په ابراهيم عليه السلام او د هغه پر کورنۍ باندې درود لېږلی دی، په رښتيا سره ته ستايلی شوی، او د لويۍ خاوند يې، او پر محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې ورولې وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې).

او ستاينه خاص رب العالمين لره ده، لکه څرنګه چې د هغه د جلال، او د هغه د واکمنۍ له عظمت سره ښايي، اې الله زموږ پر پيغمبر محمد باندې درود او سلام ولېږه، او د هغه پر کورنۍ، د هغه پر اصحابو او پر هغه کسانو چې د قيامت تر ورځې پورې په نيکۍ سره د هغه پيروي کوي.

---

[161] بخاري، په 3370 شمېره، او هغه څه چې په دوه قوسونو کې دي د ابو هريره -رضي الله عنه- له حديث څخه دی، مسلم، په 405 شمېره  روايت کړی دی.

# فهرست

دعاء؛ له کتاب او سنت څخه ........................................ 3
سریزه ........................................................................ 7
د دعا فضیلت ............................................................... 8
له کتاب او سنت څخه دعا .......................................... 16

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

موسوعة تضم تفاسير وتراجم
موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

موسوعة تضم ترجمات للأحاديث
النبويـــة وشروحها بعدة لغـــات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com

موسوعة تضم ترجمات المصطلحات
الإسلاميـــة وشروحها بعدة لغـــات

منتقى
المحتوى الإسلامي

موسوعة تضم المنتقى من
المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com

مرجعيـــة مجانيـــة إلكترونية
موثوقة للتعريف بالإســـلام

# ننشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

جـمـعـيـة الـدعـوة
وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى
الإســلامـي باللـغـــات